د جمعیت اصلاح افغانستان

# اصلاحي برنامه

## آرمانونه، لیدلوري او دریځونه

کب ۱۳۹۶ هـ ل

دوهم چاپ

د جمعیت اصلاح افغانستان

# اصلاحي برنامه

## آرمانونه، لیدلوري او دریځونه

حوت ۱۳۹۶ لمریز کال

دویم چاپ

له بیا کتنې او زیاتونو سره

# ډالۍ

هغو کسانو ته چي د انسان د پرمختگ او نېکمرغۍ لپاره کار کوي او د هراړخيز رشد پر لور د ټولنې د بدلون او له ستونزو او فساد څخه يې د خلاصون لپاره هلې ځلې کوي .

{إِنَّ اللّهَ مَعَ الَّذِينَ اتَّقَواْ وَّالَّذِينَ هُم مُّحْسِنُونَ} [النحل ١٢٨]

# سریزه

**الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وصحبه ومن والاه وبعد:**

**فأعوذ بالله من الشيطان الرّجيم**

**«قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ» [يوسف١٠٨]**

«ووایه: دا زما لاره ده، د الله لوري ته بلنه کوم، په ښه بیان او بصیرت سره، زه او هغه څوك چې زما پیروي کوي، او الله لره پاکي ده، او زه له شرك کوونکو څخه نه یم».

جمعیت اصلاح په کابل کې د خپل رسمي تأسیس پنځلسم کال ته داخلیږي. دغه اصلاحي ـ ټولنیز حرکت د ۱۳۸۲لمریز کال په مني کې خپل فعالیت د یو ټولنیز سازمان په چوکاټ کې له معتدل اسلامي مرجعیت سره، پیل کړی ؤ، الحمدلله د الله تعالی په توفیق او د مؤمنو هېوادوالو په بې دریغه ملاتړ سره په تېره یوه نیمه لسیزه کې یې زیات بریالیتوبونه ترلاسه کړي او په مختلفو برخو کې یې ډېرې لاسته راوړنې درلودلې دي. د دې کلونو په جریان کې، جمعیت اصلاح نه یوازې دا چې د هېواد د مادي او معنوي آبادۍ لپاره په زرگونه متعهد او مخلص بچیان

ټولنې ته وړاندې کړي، بلکې لسګونه زره هېوادوال یې د زده کړې او روزنې، ټولنیزو خدمتونو، رسنیو او روغتیایي څانګو له ارزښتناکه خدمتونو څخه برخمن شوي دي.

جمعیت اصلاح د ټولنې د تغییر او اصلاح لپاره د سولییزې او ډاګیزې مبارزې لاره غوره کړې، هغه کوي چې د دعوت، فکري او کلتوري فعالیتونو او خلکو ته د خدمت له لارې د افغانستان په مادي او معنوي رغونه کې ونډه واخلي.

**موخې**:

له ټولو هڅو او کوښښونو څخه د جمعیت اصلاح اساسي موخه د الله تعالی رضا حاصلول، اخروي بریالیتوب او د اسلام د مبین دین د اقامه کولو په لار کې کار کول دي. د جمعیت اصلاح له نظره د دین د قایمولو څخه موخه دا ده چې انسان د هغو امورو په دایره کې چې د ده په اختیار کې دي، په خپله خوښه او لوالتیا سره د الله تعالی نظام او حاکمیت داسې قبول کړي لکه څرنګه چې ټولو کایناتو په فطري توګه منلی دی.

د اسلام د دین له اقامې څخه موخه د هغه د یوې برخې تطبیق نه، بلکې د ټول دین تطبیقول دي، که هغه د انسان له فردي ژوند سره اړیکه لري او که ټولنیز ژوند سره؛ که هغه لمونځ، روژه، زکات او حج وي، یا اقتصاد، ټولنه، تمدن او

سیاست وي. ځکه د اسلام هېڅ یوه برخه غیرضروري نه ده. مؤمن دنده لري چې د اسلام د هراړخیز تطبیق لپاره هڅه او کوښښ وکړي، د عمل په میدان کې د دین له ویش څخه ځان وساتي په داسې توګه چې ځینې احکام عملي او ځینې نور پرېږدي. هغه احکام چې د مسلمان تر فردي ژوند پورې تړاو لري باید د هغه په شخصي ژوند کې تطبیق شي او هغه برخه احکام چې تر ټولنیز ژوند پورې تړاو لري، باید د منظم ټولنیز کار له لارې تطبیق شي[1].

## وسایل:

جمعیت اصلاح خپلو لوړو موخو ته د رسېدو لپاره له لاندې وسایلو او لارو څخه زیاته ګټه اخلي[2]:

### الف – دعوت او تبلیغ:

له دعوت او تبلیغ څخه موخه دا ده چې جمعیت اصلاح، فکر، اهداف او د اسلام پیغام له ممکنو وسایلو څخه په ګټې اخیستنې سره په روښانه توګه د ملت غوږونو ته ورسوي. په دې برخه کې زمونږ عمده وسایل، د قرآن کریم د پوهنې اونۍ، د قرآن کریم د ترجمې دورې، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د

---

[1]: د جمعیت اصلاح مرامنامه، ۱۲- ۱۳ مخونه.

[2]: د جمعیت اصلاح مرامنامه، ۱۳- ١٤ مخونه.

سیرت دورې، سیمینارونه، کنفرانسونه، د اسلامي معارف کورسونه او ځوانان د تحصیل او تخصص لاس ته راوړلو په برخه کې هڅول او له هغوی سره مرسته او داسې نور دي.

### ب ـ تنظیمول او روزنه:

جمعیت اصلاح، په لومړي قدم کې د اسلام عام پیغام او اهدافو ته قانع شوي کسان تنظیموي، بیا هغوی د اسلامي تعلیماتو په اساس داسې روزي چې هر یو یې په صالح او مصلح شخص تبدیل شي او د دنیوي امتیاز په پام کې نیولو پرته د وطن د آبادۍ او د اسلامي آرمانونو د تحقق په لاره کې هر ډول خدمت ته تیارى ولري.

### ج ـ نصیحت او ارشاد:

له نصیحت او ارشاد څخه موخه مسئوولینو او عامو خلکو ته د سالمو او ګټورو نصیحتونو او مشورو وړاندې کول د دې حدیث شریف «الدین النصیحة» په اساس دي، د دې واجب له اداء کولو څخه زمونږ موخه، په ټولنه کې د خیر او نېکۍ عام کېدل او د ستونزو او کمیو علاج او درملنه ده.

### د ـ د ټولنې خدمت:

د جمعیت اصلاح له کاري وسایلو څخه بله وسیله خلکو ته د تعلیمي، روغتیایي، خیریه او داسې نورو فعالیتونو له لارې د

هغوی لومړنۍ اړتیاوې پوره کول او نور خدمتونه وړاندې کول دي. مونږ د الله د مخلوقاتو خدمت د ځان لپاره افتخار ګڼو او د فقیرانو او بېوزلو لاس نیونه د ټولنیزو غوره عبادتونو څخه شمېرو، مونږ د تېرې یوې نیمې لسیزې په جریان کې په همدې معنویاتو او له همدې طریقې څخه په استفادې سره د خپلې ټولنې په مادي او معنوي ښېرازتیا کې هڅه کړې ده.

الحمدلله په تېرو کلونو کې، جمعیت اصلاح خپل پروګرامونه په متوازنه توګه په ټول افغانستان کې له شمال څخه تر جنوبه او له ختیځ څخه تر لویدیځه دایر کړي او زمونږ هېوادوالو له ټولو قومونو او ټولنیزو ډلو څخه، له هر راز توپیر پرته زمونږ له خدمتونو ګټه اخیستې او ددې پروګرامونو له لارې، زیات شمیر هېوادوال زمونږ له پیغام سره بلد شوي او پر مونږ او زمونږ په پروګرامونو یې باور پیدا شوی دی. د همدغه قلبي باور پر بنسټ له جمعیت اصلاح څخه غواړي تر څو خپلې برنامې لا زیاتې او په تفصیل سره هغوی ته معرفي کړي، ځکه چې زمونږ ټول درانه هېوادوال حق لري، پوه شي چې مونږ څوک یو اود څه لپاره مبارزه کوو؟ دریځونه مو څه دي؟ او د افغانستان د آبادۍ لپاره په راتلوونکي کې څه پروګرام لرو؟ همدارنګه بااحساسه ځوانان او د دې هېواد نخبه خلک تل له

مونږ څخه پوښتنې کوي او هیله لري څو د هېواد د بیلابیلو قضایاوو په اړه زمونږ لیدلوری وپېژني.

د همدغه ضرورت پر اساس دغه کتابگوټی ( د جمعیت اصلاح اصلاحي برنامه ) تر عنوان لاندې د جمعیت اصلاح «د سرلوړي او باثباته افغانستان پر لور» د هېواد په کچه، ستر سیمینار سره یو ځای، د ۱۳۹٦ کال د زمري په میاشت کې تیار شو، چې د هېوادوالوترمینځ ژر او په پراخه کچه خپور شواو د بیا ځلې چاپ اړتیا یې ولیدل شوه، چې دا دی د بیا کتنې او زیاتونو سره یې یوځل بیا د هېوادوالو د استفادې په موخه خپروو.

هیله من یو چې دغه مختصره رساله د جمعیت اصلاح او د هغه د آرمانونو او لیدلورو او برنامو د لا ښه پېژندلو وسیله وگرځي او د دې لامل شي چې زمونږ اړیکې د ټولنې له مختلفو پاټکیو او طبقو سره نورې هم پیاوړې او ټینگې شي، دې کې شک نشته چې کمال یوازې الله تعالی ته ښایي، نو ځکه خو خوښیږو چې که زمونږ ښاغلي لوستوال د خپلې مطالعې په ترڅ کې ددې طرحې خامیانې او کمزورۍ مونږ ته را وښیی، څو یې په وروستیو چاپونو کې په پام کې ونیسو.

له الله تعالی څخه په عاجزۍ غوښتنه کوو تر څو زر تر زره زمونږ جگړه ځپلي هېواد ته سوله او امنیت راولي، تر څو د دې

هېواد ټول وطن دوسته جریانونه او مخلص افراد، لاس په لاس کې ورکړي او د هېواد د آبادۍ او پرمختګ لپاره خپل کوښښونه په کار واچوي، ترڅو د وطن د بچیانو د کوښښونو په پایله کې زمونږ ګران افغانستان آزاد، آباد او په نړۍ کې د حقیقي عزت او برم خاوند وګرځي.

والله المستعان
نصیر احمد نویدي
د جمعیت اصلاح افغانستان
د مرکزي شورا رئیس
حوت ۱۳۹٦ هـ ل - کابل

# د اصلاح فکري بنسټونه

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد المبعوث رحمة للعالمين، وعلى إخوانه من النبيين والمرسلين، وعلى آله و أصحابه وتابعيهم، إلى يوم الدين.**

د جمعيت اصلاح هر اړخيز تمدني تصور په دې اصل باندې له مطلق او بې له قيد او شرط ايمان څخه سرچينه اخلي چې: په دنيا کې بل هيڅ نظام، د اسلام په اندازه، توان نلري چې مخ پر ودې او سوکاله ملتونو ته د نظم، اخلاقو، انساني عواطفو او احساساتو پر بنسټ د ودې او روزنې زمينه برابره کړي. ځکه هغه دين چې الله تعالی د ژوند د نظام په توګه غوره کړی دی او محمد صلی الله عليه وسلم يې  د دغې برنامې د تطبيق لپاره د نېکې او پوره قدوې او بېلګې په توګه ټاکلی دی، تر څو خلک له هغه څخه پيروي وکړي، داسې هر اړخيز او محکم دين دی چې د امتونو د انساني ژوند او د بشريت د سعادت او سوکالۍ لپاره ټول لازم اصول او اساسات له ځان سره لري؛ لکه چې الله تعالی فرمايي:

**«الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الرَّسُولَ النَّبِيَّ الْأُمِّيَّ الَّذِي يَجِدُونَهُ مَكْتُوبًا عِنْدَهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَالْإِنْجِيلِ يَأْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالْأَغْلَالَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ» [الأعراف:١٥٧]**

(هغه کسان چې د اُمي رسول (او) نبي پیروي کوي هغه چې دوی یې له خپل ځان سره په تورات او انجیل کې لیکلی مومي، دوی ته د نېکۍ امر کوي او دوی له بدۍ نه منع کوي او دوی ته پاکیزه څیزونه حلالوي او په دوی باندې خبیث څیزونه حراموي او له دوی نه د دوی درانه بارونه او هغه قیدونه چې په دوی وو لرې کوي)

مونږ باور لرو چې اسلام ټول هغه عوامل او اسباب لري چې امتونه په خپل خوځښت، تمدن جوړولو او د خلاقو او نوښتگرونسلونو په روزنه کې ورته اړتیا لري ، لکه:

لومړی: د هیلې او پر ځان د باور عنصر؛ قرآن کریم په داسې توگه د خپلو پیروانو په زړونو کې د امید ډیوه روښانه کوي چې مړو او بې روحه امتونو ته، پوره ژوند، نشاط، همت، عزم، اراده او حرکت وربښي؛ دا بسنه کوي چې ناهیلي د کفر

لور ته لار او نا امیدي د گمراهۍ له نښو څخه شمېري. د دې مدعا د ثبوت لپاره لاندې آیت شریف لولو:

**«وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (٥) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ» [القصص:٥-٦]**

(او مونږ اراده لرو چې په هغو کسانو احسان وکړو چې په زمکه کې ډېر ضعیف کړی شوي دي او چې دوی امامان وگرځوو او چې مونږ دوی [د فرعون د ملك] وارثان وگرځوو. او چې مونږ دوی ته په زمکه کې قدرت ورکړو)

**«وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ (١٣٩) إِنْ يَمْسَسْكُمْ قَرْحٌ فَقَدْ مَسَّ الْقَوْمَ قَرْحٌ مِثْلُهُ وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَيَتَّخِذَ مِنْكُمْ شُهَدَاءَ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ» [آل عمران:١٣٩، ١٤٠]**

(او تاسو مه کمزوري کېږئ او مه غمجن کېږئ، په داسې حال کې چې همدا تاسې به غالبه( برلاسي) یئ، [خو] که تاسو مؤمنان یاست. که چېرې تاسې ته څه زخم رسېږي، نو یقینًا [کافر] قوم ته [هم] د دې په شان زخم رسېدلی دی او دا ورځې [حادثې] دي چې مونږ یې د خلکو په منځ کې په وار سره اړوو را

اړوو او د دې لپاره چې الله مؤمنان معلوم کړي او له تاسو څخه شهیدان واخلي او الله له ظالمانو سره مینه نه کوي).

دویم: د غوره، باعزته او ځلانده تاریخ او ځانګړینې لرونکي امت په توګه، پر خپل امت د عزتمندۍ احساس درلودل؛ تر څو دغه احساس د اسلام د بچیانو په ذهنونو کې ژوندی او ویښ پاتې وي او د دې مجد او عظمت په ساتلو کې خپل ځانونه قربان کړي او د خپل هېواد د نېکمرغۍ او سرلوړۍ په خاطر هڅه او کوښښ وکړي. الله تعالی فرمایي:

**«كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ» [آل عمران:١١٠]**

(تاسو غوره امت یاست چې د خلقو لپاره را پیدا کړی شوي یاست، تاسو د نېکۍ امر کوئ او له بدۍ نه منع کوئ او په الله باندې ایمان لرئ).

**«وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا» [البقرة:١٤٣]**

(او همدارنګه مونږ تاسو غوره امت جوړ کړي یاست، د دې لپاره چې تاسو په خلکو باندې شاهِدان [ګواهان] شئ، او رسول پر تاسو باندې ګواه شي).

**«وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا**

**يَعْلَمُونَ» [المنافقون:٨]**

(او عزت [خو] خاص د الله لپاره دی او د هغه د رسول لپاره دی او د مؤمنانو لپاره دی، خو منافقان نه پوهېږي).

درېيم: چمتووالی او ځواکمني: ځکه چې ژوندي او مخ پر وده ملتونه داسې ځواک او قوت ته اړتيا لري چې د ايمان او عدالت په جوهر ښکلي وي، د امت بچيان بايد د يوه سرتېري په ځانګړينو سمبال وي؛ ځکه چې ځواک د حق لاسته راوړنې ښه تضمينوونکی دی.

**«وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ» [الأنفال:٦٠]**

(او تاسې قوت او تړلي آسونه تيار کړئ څومره چې استطاعت( وس او توان) لرئ، چې په دې سره به تاسې د الله دښمنان او خپل دښمنان ووېروئ).

الله تعالی جهاد پر مسلمانانو د دې لپاره نه دی فرض کړی چې په نورو يې د تېري او د خپلو شخصي غوښتنو د لاسته راوړنې وسيله وګرځوي، بلکې د ملتونو د ساتنې او د انساني رسالت د اداء کولو د تضمين لپاره فرض شوی چې د هغه دروند بار د مسلمانانو پر اوږو پروت دی، هغه رسالت چې د حق او عدالت لوري ته د خلکو د لارښوونې وسيله ده.

د جهاد له مهمو مرتبو څخه په نېکۍ امر او له بدۍ څخه منع کول، نصیحت او د الله (جل جلاله )، د هغه د رسول ( صلی الله علیه وسلم )، د هغه د کتاب او د مسلمانانو د چارواکو لپاره د خیرغوښتنه ده. په حکمت او موعظه حسنه سره د الله لوري ته بلنه، د اسلام او مسلمانانو له دښمنانو سره د مرستې بندول، د عدالت د پلي کولو او د انسانانو د چارو د سمونې لپاره مبارزه، د یرغلګرو او ظالمانو لاس لنډول، د مظلومانو ملاتړ، او داسې نورې هغه چارې چې د انسانیت ساتنه کوي، د جهاد مختلف مراتب تشکیلوي، که څوک له دې مراتبو څخه په یوه مرتبه کې شاملېدای نشي، لږ تر لږه دې له هغو کسانو سره مینه ولري چې دغه لوی مسئوولیت یې په غاړه اخیستی او هغوی ته دې نصیحت وکړي.

څلورم: یوازې د مټ او وسلې زور د امتونو د سوکالۍ او عروج لپاره بسنه نه کوي، بلکې د دې تر څنګ، علم او پوهې ته هم اړتیا شته تر څو دغه ځواک تر کنټرول لاندې ولري او په ښه توګه یې استعمال او رهبري کړي او په ټولو برخو کې نوي اکتشافات او ډول ډول اختراعات په اختیار کي ورکړي.

**«اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ (١) خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ (٢) اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ (٣) الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ (٤) عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ**

**يَعْلَمْ» [العلق:١-٥]**

(ته د خپل هغه رب په نامه سره ولوله چې پيدا کړي يې دي [ټول مخلوقات]. ده انسان له پرنې [ټوټې] وينې نه پيدا کړی دی. ته ولوله، په داسې حال کې چې ستا رب تر ټولو لوی کريم دی. هغه چې په قلم سره يې ښوونه کړې ده .انسان ته يې هغه څه ښودلي دي چې دی پرې نه پوهېده).

**«قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ إِنَّمَا يَتَذَكَّرُ أُولُو الْأَلْبَابِ» [الزمر:٩]**

(آيا سره برابرېدلی شي هغه کسان چې پوهېږي او هغه کسان چې نه پوهېږي، پرته له شکه همدغه د خالصو عقلونو والا نصيحت اخلي).

پنځم: امتونه د خپل پرمختګ او سوکالۍ په لاره کې پياوړو او غوره اخلاقو، پاک نفس، لوی او باهوده شخصيت ته قوي اړتيا لري. ځکه چې په دغه لار کې د نوي عصر ـ د خوځښت عصر ـ له غوښتنو سره مخ کيدونکي دي چې د دغو غوښتنو لاسته راوړل، د لوړو او رښتينو اخلاقو څخه پرته چې د پياوړي او قوي ايمان، سترې سرښندنې او نه ماتېدونکي صبر او حوصلې څخه سرچينه اخلي، امکان نلري.

**«قَدْ أَفْلَحَ مَنْ زَكَّاهَا (٩) وَقَدْ خَابَ مَنْ دَسَّاهَا»**

**[الشمس:۹-۱۰]**

(يقينًا بريالى شو هغه څوك چې دغه [نفس] يې پاك كړ. او يقينًا نامراده شو هغه څوك چې دغه [نفس] يې په خاورو كې پټ [پليد] كړ).

**«إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ» [الرعد:۱۱]**

(بېشكه الله د هېڅ قوم حالت نه بدلوي تر هغه پورې چې هغوى [په خپله] د خپلو نفسونو حالت بدل كړي).

شپږم: پرمختللي امتونه له هر څه نه زيات د اقتصادي چارو تنظيم ته اړتيا لري، چې په اوسنۍ زمانه كې د انسانانو په ژوند كې مهمه قضيه ده، اسلام په دې اړه فرمايي:

**«وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللَّهُ لَكُمْ قِيَامًا» [النساء:۵]**

(او ناپوهو كسانو ته د هغوى مالونه مه ورسپارئ، هغه چې الله ستاسې لپاره د ګذران سبب ګرځولي دي).

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**«نَعِمَّا بِالْمَالِ الصَّالِحِ لِلرَّجُلِ الصَّالِحِ»**[۳].

---

[۳]: مسند احمد او نور له عمرو بن عاص.

(څومره ښه دی پاک مال د صالح انسان په لاس کې).

اووم: د فرد، کورنۍ، امت، خلکو، حکومت او د امتونو تر منځ د اړیکو لپاره نظام.

اسلام د انسان د ژوند ټولو برخو ته برنامه او نظام معرفي کړی دی ، چې د عادلانه نظام او پرمختللې او له آرام او هوساینې برخوردارە ټولنې جوړولو لپاره، د انسان فردي او نړیوالې اړتیاوې پوره کوي.

# زمونږ د اصلاحي طرحې بنسټونه

اسلامي امت، معتدل او د الله تعالی غوره کړای شوی امت دی چې انسانانو ته په لارښوونه او ټول بشریت ته د خیر په رسولو مأمور شوی دی. دغه امت په خپل ځان کې ټول معنوي بنسټونه لري چې د ملتونو د خوځښت او سوکالۍ لپاره اړین دي او مونږ اړ نه یو چې د بنسټونو او اساساتو په برخه کې له نورو امتونو څخه څه شی پور کړو، زمونږ د تمدني طرحې مهم بنسټونه له: اسلام، عدالت، خپلواکي او برابري څخه عبارت دي چې په لاندې توګه یې بیانوو:

**لومړی- اسلام**:

اسلام د تاریخ په اوږدو کې په خپلو نظري او عملي فیوضاتو سره د دې امت شخصیت ته جوړښت ورکړی او د هغه هویت یې جوړ کړی دی او د دغه شخصیت رواني، عقلي او عملي اصولو او قوانینو بنسټ یې ایښی دی. له همدې امله د مختلفو اسلامي ټولنو ارزښتونه او مقررات یو له بل سره همغږي لري او د دې امت د بچیانو د مطلق اکثریت په ضمیرونو کې د حق او باطل، خیر او شر، ښو او بدو، صواب او خطا معیارونو پیژندنه په یو ډول شکل نیسي.

اسلام وروستی آسماني دین دی چې الله عزوجل هغه خپلو

بندګانو ته غوره کړی دی. له دې امله دغه دين د انساني ژوند په ټولو چارو حاکم دی او د ټولنې چارې په سلوکي، ټولنيز، سياسي، اقتصادي او داسې نورو برخو کې تنظيموي. له دې امله واقعي مؤمنانو، اسلام د ژوند د نظام په توګه قبول کړی او د هغه حلال حلال او حرام حرام ګڼي، د هغه اوامرو ته پابند وي او په لارښوونو يې عمل کوي او د خپلو اختلافاتو او ستونزو په حل کې قضاوت هغه ته سپاري او د هغه له احکامو څخه په ګټې اخيستنې سره د خپلو ستونزو د حل لپاره اقدام کوي او بالآخره له اسلامي طريقې او لارې نه په پيروۍ او حرکت سره د دنيا او آخرت نېکمرغي او خير ترلاسه کوي.

«فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ مِنِّي هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقَى» [طه:١٢٣]

(نو که تاسې ته زما لخوا هدايت راغی، نو چا چې زما د هدايت پيروي وکړه، نو دی به نه ګمراه کېږي او نه به بدبخته کېږي).

جمعيت اصلاح باور لري چې اسلام هراړخيز نظام دی، چې د ژوند ټولو اړخونو ته شامل دی. مونږ باور لرو، لومړی هغه بنسټ چې اسلامي امت په هغه باندې سره برابرېدای شي، اسلامي عقيده ده، هغه عقيده چې د انسان شخصيت جوړوي او

په خرافاتو کې د هغه د غورځیدو مخه نیسي، هغه عقیده چې انسانان نه سره جلا کوي، بلکې هغوی د یو بل تر څنګ راټولوي؛ هغه عقیده چې د ټولو آسماني رسالتونو میراث دی او پر ټولو انبیاؤ علیهم السلام باندې د ایمان پر اساس جوړه شوې ده.

**«لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ» [البقرة:٢٨٥]**

((او وایئ] مونږ د هغه [الله] په رسولانو کې د هېچا په منځ کې فرق نه کوو).

نو له الله تعالی نه پرته د بل هېڅ قدرت په وړاندې عبودیت، تسلیمي او سرټیتول جواز نه لري. او هېڅ حکم د الله تعالی له حکم پرته او هېڅ امر د الله تعالی له امر پرته، په مطلقه توګه د قبول وړ نه دی، او د الله تعالی لپاره له دوستۍ پرته بل هر ډول دوستي مردوده ده.

**«قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ تَعَالَوْا إِلَى كَلِمَةٍ سَوَاءٍ بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمْ أَلَّا نَعْبُدَ إِلَّا اللَّهَ وَلَا نُشْرِكَ بِهِ شَيْئًا وَلَا يَتَّخِذَ بَعْضُنَا بَعْضًا أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ» [آل عمران:٦٤]**

((ای نبي!] ته [دوی ته] ووایه: ای اهل کتابو! داسې کلمې ته راشئ چې زمونږ او ستاسې په منځ کې برابره ده، دا چې عبادت به نه کوو مګر یوازې د الله او له هغه ذات سره به هېڅ شی نه شریکوو او زمونږ ځیني به ځیني نور له الله نه پرته د

پالونکو [خدایانو] په توګه نه نیسي).

مونږ ایمان لرو چې د عقیدې او اسلامي شریعت لومړی مصدر، د اخلاقو او د هغو د ارزښتونو مصدر او د هغو د مفاهیمو او معیارونو مصدر  قرآن کریم دی، هغه کتاب چې باطل له هیڅ لارې هغه ته لاره نشي پیدا کولای، هغه کتاب چې الله تعالی هغه روښانه او آسانه توصیف کړی دی او هغه یې له هر ډول تحریف او بدلون څخه ساتلی دی، هغه کتاب چې په عربي څرګنده ژبه نازل شوی دی او د نړیوال مضمون او پیغام لرونکی دی.

مونږ ایمان لرو چې نبوي سنت له  قرآن کریم څخه وروسته د اسلام دویم مصدر دی چې د  قرآن کریم د تفسیر لپاره اساسي مصدر ګڼل کیږي، سنت زمونږ له نظره ټول هغه اقوال، افعال او تقریرات دي چې له معصوم پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه په قبول شوي سند روایت شوي وي.

**«قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا عَلَيْهِ مَا حُمِّلَ وَعَلَيْكُمْ مَا حُمِّلْتُمْ وَإِنْ تُطِيعُوهُ تَهْتَدُوا وَمَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ» [النور:٥٤]**

(([ای نبي!] ته [دوی ته] ووایه: تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، نو که دوی مخ واړوي، نو بېشکه همدا خبره ده

چې په دغه [رسول] باندې هغه [د تبلیغ] بار دی چې پرې اېښودل شوی دی او پر تاسو باندې هغه بار دی چې په تاسو اېښودل شوی دی او که تاسو د هغه [رسول] اطاعت وکړئ [نو] نېغه لار به ومومئ، او د رسول پر ذمه نشته مګر ښکاره پېغام رسول).

**«قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ» [آل عمران:۳۱]**

([ای نبي!] ته ووایه: که چېرې تاسې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما پیروي وکړئ، الله به له تاسې سره مینه وکړي او ستاسې ګناهونه به وبښي او الله تعالی ډېر بښونکی او بې حده رحم کوونکی دی).

د جمعیت اصلاح په باور د اسلام د پوهې او پېژندلو لپاره له باوري اصولو څخه یو دا دی چې قرآن کریم او پاک سنت د احکامو په پېژندنه کې، د هر مسلمان مرجع ده. قرآن کریم باید د عربي ژبې د قواعدو پر اساس، له تکلف او تأویل څخه پرته تفسیر شي؛ او د پاکو سنتو په پوهه کې هم د حدیثو باوري علماؤ ته مراجعه وشي.

مونږ باور لرو چې اسلام د تحریف شوي مسیحیت پر خلاف، د رجال دین( دیني وګړو) په نامه د خلکو کوم ټولګی په

رسميت نه پېژني او نه هم کومه ډله په رسميت پېژندل شوې چې دين يې يرغمل نيولی وي او د خلکو په ضميرونو حاکمه وي، او ځانونه د الله تعالی او بندګانو تر منځ د وسيلې په توګه معرفي کړي، بلکې ټول مسلمانان د خپل دين د وګړو په توګه پېژندل کېږي او چا ته ضرورت نه لري چې د هغوی او د پروردګار تر منځ وساطت وکړي. د دين علماء په اسلام کې پوه، د تخصص څښتنان او د قدر وړ خلک دي چې خلک پر ديني مسايلو د پوهېدلو لپاره هغوی ته مراجعه کوي، لکه څرنګه چې په نورو مسايلو کې نورو پوهانو او د تخصص څښتنانو ته مراجعه کېږي.

**«فَاسْأَلْ بِهِ خَبِيراً» [الفرقان:٥٩]**

(نو ته د ده په باره کې له ښه خبردار نه پوښتنه وکړه).

**«فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ» [النحل:٤٣]**

(نو تاسې د علم له خاوندانو پوښتنه وکړئ که چېرې تاسې نه پوهېږئ).

او هر مسلمان حق لري چې په خپله هڅه او کوښښ او د ديني علومو په زده کړه او په دې برخه کې د تخصص په لاسته راوړنې سره ديني عالم شي، خو هېڅوک د وراثت او ميراثي القابو په وسيله دې مقام ته نشي رسېدلای، اسلام هغه وارداتي وېش نه پېژني چې افراد او مؤسسات په ديني او غيرديني برخو

تقسیموي. نو له دې امله هېڅ ډول وېش د دیني او غیردیني په توګه د خلکو، تعلیماتو، قوانینو او مؤسساتو تر منځ وجود نه لري، بلکې دا ټول باید د الله تعالی په طاعت او د انسان په خدمت کې قرار ولري.

اسلامي شریعت هراړخیز شریعت دی چې د الله تعالی له لوري رانازل شوی دی تر څو د انسان او د هغه د پروردګار تر منځ، د هغه او د هغه د نفس، کورنۍ، ټولنې او لوی امت او په پای کې د هغه او ټول بشریت تر منځ اړیکه او حتی دده او د کایناتو تر منځ رابطه تنظیم کړي.

اسلامي شریعت، په اصل کې الهي وحې ده چې د قرآن کریم او صحیح نبوي سنتو په چوکاټ کې مونږ ته راغلې ده او فقه زمونږ له نظره د مسلمان د عقل استعمال دی چې د شرعي، عقلي او لغوي معیارونو پر اساس له قرآن او سنتو څخه د عملي احکامو راویستو په اړه په منضبط اجتهاد، تفکیر او استنباط کې کارول کېږي. په عباداتو کې اصل، تعبد او په نص باندې عمل کول دي، بې لدې چې علتونو او حکمتونو ته یې وکتل شي، خو په عادتونو او معاملاتو کې اصل دا دی چې په علتونو، معناګانو او مقاصدو کې یې دقت وشي.

اسلامي شریعت له هغو ټولیزو نصوصو، موخو او قواعدو او

بنسټونو څخه عبارت دی چې د انساني باکرامته ژوند بنسټ جوړوي، پرته له دې چې څوک په ستونزه کې اخته کړي او یا پر چا فشار راوړي. د دې اصولو او مقاصدو موخه د یوې داسې ټولنې جوړول دي چې د ژوندانه په ټولو برخو(اجتماعي، سیاسي او اقتصادي) کې، په عدالت او احسان باندې ښکلې شوې وي چې د «د ګټو د جلب او ضررونو د دفعې» د اصل پر بنسټ او د شرعي ضوابطو او ثابتو اصولو پر اساس رامینځته کیږي.

اسلامي شریعت په هغه مفهوم کې چې مونږ یې ترې لرو، په غوره والي، کمال او دوام توصیف شوی. یعنې الهي شریعت په خپلو اصولو او ځانګړتیاوو کې له هر بشري فکر څخه لوړ او له ټولو انساني تجربو څخه غوره دی چې د زمانې په اوږدو او مختلفو ځایونو کې سرته رسېدلې دي؛ که څه هم چې دغه تجربې ګټورې، ګڼې او بېلابېلې وي. اسلامي شریعت د کمال په صفت متصف دی، یعنې هېڅ ډول نقص او کمی پکې نشته. د دوام صفت لرونکی دی، یعنې اسلامي شریعت د ثابتو اصولو لرونکی دی او هېڅ ډول بدلون پکې لاره نشي کولی. الهي شریعت د تل لپاره له انساني فکر څخه وړاندې دی، په ځانګړې توګه د اصولو او عمومي قواعدو په برخه کې، یعنې د انسان فکر ـ که هر څومره اوږد او پراخه وي ـ په ټولو مرحلو کې هغه

رهبري کوي او لارښوونه ورته کوي.

د اسلام له نظره مجازات او عقوبت د جريمې او جنايت په مخنيوي کې لومړنی عامل ندی، بلکې د علتونو او لاملونو په مهارولو او د نسلونو په روزنې، له جرايمو څخه د ټولنې ساتنه او وقايه غوره درملنه بللی شي، ځکه چې وقايه تل له درملنې غوره ده.

اجتهاد پر امت باندې له کفايي فرضونو څخه دی چې د مجتهدو علماؤ د تيارولو لپاره بايد ځانګړي او په نويو او ماډرنو وسايلو مجهز مدارس، انسټيټيوټونه او علمي مراجع تأسيس شي. چې د اجتهاد دروازه د اهل او وړو وګړو لپاره او په خپل ځای کې خلاصه وي. د اجتهاد اهل هغه کسان دي چې هغه شروط او بنسټيزې وړتياوې، چې فقهاء او د اصول فقه علماء وربандې اتفاق لري، پکې وي. او د اجتهاد ځای او محل ظني احکام دي، يعنې هغه احکام چې په خپل ثبوت او يا دلالت او يا دواړو (ثبوت او دلالت) کې ظني وي.

خو په قطعي احکامو او نصوصو کې د اجتهاد لپاره هيڅ مجال نشته؛ ځکه هغه داسې ثابت احکام دي چې د امت اعتقادي، فکري، وجداني او سلوکي وحدت ساتي.

مسلمانان چې په هر ځای کې وي په ټوله کې يو امت بلل

کیږي، هغه امت چې الله تعالی خپل پالونکی، اسلام د ژوند لار، محمد صلی الله علیه وسلم د پیغمبر او قرآن کریم د امام او لارښوود په توګه مني او ایماني اخوت او وروګلوي یې سره راټولوي.

**«إِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ» [الأنبياء:٩٢]**

(بېشکه همدا ستاسې دین دی، چې یو دین دی او هم زه ستاسې رب یم، نو تاسو زما عبادت کوئ).

**«إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ» [الحجرات:١٠]**

(بېشکه هم دا خبره ده چې مؤمنان سره وروڼه دي).

اسلامي امت، د عقیدې او رسالت لرونکی منځلاری امت دی او ټول بشریت ته د نژاد، وطن، ژبې او نورو له له توپیر سره د دې عقیدې او رسالت د رسولو مسئوولیت په غاړه لري او له هېڅ نژاد، وطن او ژبې سره ځانګړې اړیکه نلري.

د اسلامي امت رسالت او پیغام الهي، انساني او اخلاقي دی او لنډیز یې په لاندې توګه دی:

١) په یوه الله باندې ایمان: یعنې له الله تعالی پرته هېڅوک خپل رب ونه ګڼې، او له هغه پرته د ځان لپاره دوست او کارجوړوونکی ونه نیسې، او له هغه پرته بل څوک د حاکم او

فرمانبردار په توګه ونه پېژني.

۲) په معروف باندې د امر او له منکر څخه د منع د فریضې اداء کولو له لارې د حق، خیر او لوړو ارزښتونو لوري ته د خلکو بلنه او دعوت.

«الله تعالی مونږ را پورته کړي یو، تر څو خلک د بندګانو له بندګۍ څخه خلاص کړو او د بندګانو د رب بندګۍ ته یې راوباسو او د دنیا له تنګتیا څخه یې خلاص او د آخرت پراخوالي ته یې ننباسو او د نورو دینونو له ظلم څخه یې خلاص کړو او د اسلام عدل ته یې راولو»[٤].

**دویم - عدل**:

عدل په کایناتو کې الهي سنت او قانون دی او الله تعالی آسمانونه او زمکه د قسط او عدل پر بنسټ جوړ کړي دي. هېڅ تمدن او آبادي له عدل پرته منځته نه راځي. د دولتونو استقرار او د هغوی د واک پراخېدل یوازې د عدل له لارې امکان لري. د کتابونو له نازلېدو او له ځرګندو دلایلو سره د پیغمبرانو علیهم السلام له رالېږلو څخه د الله تعالی موخه دا وه چې د خلکو اړیکې د عدل او عدالت پر اساس تنظیم شي او تر منځ یې د انصاف پر اساس حکم وشي.

---

[٤]: دغه خبره د ایران د لښکر مشر رستم ته ربعي بن عامر کړې وه.

عدالت د اسلامي شریعت جوهر او د نزول له اسبابو څخه یو سبب دی؛ یعنی اسلامي شریعت د دې لپاره نازل شوی تر څو د بشریت تر منځ که هغه حاکم وي او که محکوم، مسلمان وي او که غیرمسلمان، د عدل او مساوات پر اساس یوه ټولنه رامنځته کړي.

د عدالت ټینګول، له آزادۍ، ټولنیز تکافل او مساوات او د شورا اصل ته له پابندۍ پرته امکان نلري، او آزادي او مساوات هلته راځي چې په نظري، تنظیمي او عملي مستوا کې عدل رامنځته شي. د عدالت په وسیله د افرادو او ټولنو تر منځ توازن منځ ته راځي او د حکومت صلاح تضمینږي، او نه پریږدي چې حکومت په داسې ارګان بدل شي چې د خپل ملت پر ضد قدم پورته کړي.

د عدالت قایمول یوه عملي دنده ده او د ټولنې پر ټولو افرادو لازمه ده چې د عدالت د اقامې، د ظلم د مخنیوي او د تېري د له منځه وړلو وسایل رامنځته کړي او بیا یې وساتي، په داسې توګه چې د ټولنې افراد د عدالت له اصولو او انساني ارزښتونو سره په مینه وروزي، هر فرد یې د عدالت د تحقق لپاره قربانۍ او سرښندنې ته تیار وي، او د حکومت نظامونه د عدل پر اساس ودروي، په داسې توګه چې واکمن د خلکو په

استازيتوب، د عدالت د تحقق په لاره کې هيڅ ډول تقصير او سستي ونکړي.

په شامل او هراړخيز مفهوم سره د عدالت ټينګول، هغه لوړ آرمان دی چې يوازې او يوازې الهي شريعت ته د پابندۍ او د ژوند په ټولو برخو کې د اسلام لارښوونو ته د پيروۍ له لارې تحقق موندلی شي.

**دريم- ازادي:**

الله تعالی انسان له خپلواکه ارادې سره پيدا کړی او دا ځواک يې ورکړی دی څو هغه نظر او کړنې غوره کړي چې دده خوښې وي. نو آزادي د انسان د فطرت برخه ده او انسان بايد له هر ډول قيد او بند څخه خلاص او يوازې د الله تعالی بنده وي او د هر ډول تجاوز او تيري په وړاندې ودريږي او له نورو سره په دې برخه کې مرسته وکړي.

اسلام د انسان پر آزادۍ تيری او د هغې ارزښت کمول د الله تعالی له ارادې سره يو ډول مقابله ګڼي اوپر حاکمانو او چارواکو واجبوي چې د خپلو اتباعو آزادي خوندي کړي او داسې فضا رامنځته کړي چې د هېواد هر اوسېدونکي ته د غوره آزادۍ په لور او له هر ډول ټولنيز فشار سره د مقابلې لارښوونه وشي.

نو په دې مفهوم سره آزادي يو لوړ ارزښت او يو عام اصل

دی چې د انسان د ژوند ټولو اړخونو ته شامل دی او د هغه په ضمیر، پوهاوي او درک کې ریښې غځوي او له هغه څخه آزاد انسان جوړوي چې د نورو د آزادۍ په حق باور ولري. دغه آزادي مطلقه ده او د شریعت له اصولو او له دیني احکامو او ارزښتونو پرته بل هڅ قید او بند نه مني.

آزادیو ته درناوی د بشر د ځواکونو او نوښتونو د غوړېدا لپاره حیاتي ضرورت او لازم شرط بلل کېږي او انسان لا زیاتو لاسته راوړنو ته هڅوي او په پای کې ورته د بشریت د اصلاح فرصتونه او د ویښتابه شرایط برابروي.

**څلورم- مساوات**:

مساوات د انسانانو تر منځ د انساني وحدت د اصل او مبدأ پر بنسټ مطرح کېږي؛ یعنې خلک د آدم اولاده ده او آدم علیه السلام له خاورې څخه پیدا شوی دی؛ او د دې مساوات جوهر د قانون په وړاندې د خلکو تر منځ برابری دی. انسانان ( فقیر او غني، حاکم او محکوم) د قانون او قضا په وړاندې سره برابر دي او د نژاد، جنس، رنګ، دندې، مذهب او ټولنیز مقام پر اساس له یو بل څخه توپیر نلري.

مونږ د خپلې اصلاحي طرحې د وړاندې کولو پر مهال، په تش میدان نه یو ولاړ او نه هم قصد لرو چې ملت له عدم څخه وجود ته راولو، بلکې مونږ په داسې یوه ارزښتناک ټولنیز میراث

تکیه لرو چې عمر یې له څوارلس پیړیو څخه زیات دی. دا سمه ده چې په دې میراث کې د تحریفونو، ناسمو تفسیرونو او د علمي تحقیق تګلارې ته په نه پابندۍ سره ځینې نقصانونه رامنځته شوي، خو له دې سره سره هم دا ارزښتمن میراث کولای شي چې زمونږ د اجتهادونو لپاره یو غوره بنسټ وګرځول شي.

زمونږ له اساسي باورونو څخه دا دی چې حکمت د مؤمن ورک شوی څیز دی، که د انساني تمدن په جوړولو کې زمونږ ګډون زیات وي او یا کم، مونږ باور لرو چې د امتونو فرهنګ، د خلکو تجربې او د انساني تمدنونو مادي او معنوي لاسته راوړنې کولای شي زمونږ د تمدني پروژې د غنامندۍ مصدر وګرځي.

**«فالْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ أنىّ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ الناس بِهَا»**[٥].

(حکمت د مؤمن ورک شوی څیز دی، چې چېرته یې پیدا کړي، دی ورته ترنورو ټولو وړ کس دی).

خو له دې تمدني لاسته راوړنو څخه ګټه اخیستنه به د تل لپاره په شرعي ضوابطو ولاړه وي.

---

[٥]: د أحمد مسند؛ طبع الرسالة (١/ ٢٣).

## د ګډ ژوند ضوابط

جمعیت اصلاح په دې باور ده، چې په ټولنه کې د ګډ ژوند قواعد درې څېزونه دی:

**لومړی ـ نورو ته درناوی**:

د ټولنې ټول افراد نشي کولای همنظره او یو شان وي او فکري، فرهنګي او سلیقوي توپیرونه دټولنې په افرادو کې طبیعي خبره ده. یوه سالمه ټولنه یوازې او یوازې د ګډ ژوند او متقابل درناوي له لارې پر مخ  تللی شي.

نورو ته درناوی، د هغوی په حقوقو اعتراف او له هغوی سره نېک او انساني تعامل یوه منل شوې مسئله ده او د مناقشې وړ نه ده.

مونږ سوله ایز ژوند کول په ټولنه کې د ګډ ژوند له اساسي ضوابطو او بنسټونو څخه ګڼو او ځانونه هغه ته پابند بولو.

**دویم ـ نېک اخلاق**:

د اسلام له انده اخلاق او سلوک مطلق او نه بدلېدونکي ارزښتونه دي او انسان د همدې ارزښتونو ترسیوري لاندې له خپل مخالف او موافق سره تعامل کوي، دا اخلاقي ارزښتونه له دیني، عقیدتي، فکري اختلاف او نورو ټولو اعتبارونو څخه نه اغېزمن کېږي.

مسلمان به یوازې د هغو کسانو په وړاندې اخلاقي ارزښتونو ته ژمن نه وي چې دی ورسره مینه لري، یا یې د کورنۍ، ټبر او قبیلې غړی دی، بلکې اخلاق له ټولو انسانانو سره د مسلمان د تعامل چوکاټ دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم هم همدا ډول تعامل درلود، حتی د مکې له مشرکانو او د مدینې له یهودو سره یې په نېکو اخلاقو تعامل کاوه تر دې چې ستر صفت چې قرآن کریم یې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقلوي، دغه دی چې وايي:

{وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ} [القلم:٤]

(او بېشکه چې ته یقینًا په ډېرو لویو اخلاقو باندې [فایز] یې).

مونږ باور لرو چې ټولنیز ژوند له اخلاقو پرته ثابت او ټینګ نشي پاتې کېدی، زمونږ له انده اخلاق هغه ارزښت دی، چې له دین او آسماني رسالت څخه سرچینه اخلي.

**درېیم ـ مرسته او کومک**:

مرسته او همکاري د دینداری جوهر دی، که خلک د خپلو ګډو مصلحتونو د خوندیتوب لپاره، د یو بل مرستندوی نشي نو په ټولنه کې ګډ ژوند دوام نه مومي. رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې ټولنې وګړي د یوې غټې بېړۍ د سپرلیو سره مشابه

کړي دي او فرمايي:

(د هغو کسانو مثال، چې د الله حدود رعايت کوي او هغوی چې نه يې رعايت کوي د بېړۍ د سپرليو په څېر دی، چې په بيړۍ کې د سپرېدو لپاره پچه اچوي، د پچې اچونې په پايله کې ځينو ته لوړ پوړ رسېږي او ځينو ته لاندې ، د لاندې پوړ کسان د اوبو اخيستلو لپاره پاس پوړ ته راځي، خو څه وخت وروسته د لاندې پوړ کسان په خپلو کې مشوره کوي، چې پاس خلک ولې په تکليفوو، ښه دا ده، چې د بېړۍ په خپله برخه (لاندې پوړ) کې سوری وکړو (او نېغ د درياب له اوبو استفاده وکړو) او د پاس پوړ د خلکو د ځورونې او تکليف لامل نه شو، نو که د پورتني پوړ خلک لاندې خلک پرېږدي چې خپله پرېکړه عملي کړي، نو ټول به هلاک شي، ولې که منع يې کړي نو ټول به وژغورل شي) صحيح البخاري.

په دې ټولنه کې مونږ ټول له يوه چت ( وطن ) لاندې ګډ ژوند کوو او هر کار چې د ټولنې يوه برخه خلک يې سرته رسوي، اغيز يې په نورو پريوزي، نو ځکه خو د ټولنې د غړيو ترمنځ تفاهم او همکاري ډېره اړينه ده، ځکه که په ټولنه کې فساد رامنځ ته شو نو زيان يې د ټولنې ټولو غړيو ته رسيږي او که د نېکۍ بنسټ پکې کېښودل شو نو ټول ترې ګټه اخلي.

# قضيې او دريځونه

## د حکومت او حکومتولۍ په اړه زمونږ نظر:

حکومت د اسلام له ارکانو څخه يو رکن دی او رسول الله صلی الله عليه وسلم حکومت د اسلام له کړيو څخه يوه کړۍ شمېرلې ده، او زمونږ د دين په کتابونو کې د مشرۍ، زعامت او خليفه د ټاکنې موضوع په فرعي او فقهي مسايلو کې نه، بلکې د عقايدو او اصولو په برخه کې راغلې ده.

مونږ ځانونه د الله (ج) لور ته بلونکي بولو، چې په حکمت او نصيحت د الله (ج) د دين لوري ته وګړي رابولو، چې د الهي شريعت پلي کول او د مسلمانانو د چارو مشرۍ ته د نېکو خلکو ټاکنه د دې دعوت يوه ستره غوښتنه بولو، جمعيت اصلاح دغه رسالت له سوله ييزې لارې او د اساسي قانون او هېواد کې د نافذه قوانينو د حکمونو سره سم ترسره کوي او په نامشروع او غيرقانوني توګه د واک ترلاسه کولو هره هڅه مردوده ګڼي.

حکومتي منصبونه لاس ته راوړل، د جمعيت اصلاح بنسټيز هدف نه دی، خو که ملت د آزادو، رڼو او شفافو ټاکنو له لارې وغواړي چې مشري په کلي او يا جزئي توګه جمعيت اصلاح ته وسپاري نوهغه نه ردوي او هڅه به وکړي چې له واک څخه د خلکو د خدمت او د ارزښتونو د ساتنې لپاره ګټه بورته کړي، په

عمومي ډول زمونږ په اند حکومت او مسؤولیت امانت او مکلفیت دی، نه تشریف اوامتیاز.

په همدې اساس هغه حکومت چې مونږ یې غواړو، مدني او د اسلامي مرجعیت لرونکی حکومت دی؛ په دې معنا چې سیاسي نظام به یې په یوې ملزمې شورا متکي وي او نورې ټولې برخې به یې د خپلو متخصصو کسانو له لوري اداره کېږي، دیني خلک به په کې تر ټولو لوړه سلطه او برلاسی نه لري، دا حکومت به عدالت تأمینوي، عمومي آزادۍ به خوندي کوي، سیاسي ګڼ والی او د قدرت سوله ییز لېږد به مني، د عامه شتمنیو محافظت به کوي، د هېواد د آزادۍ او د ملت د ناموس ټینګه ساتنه به کوي.

د هغه څه پر اساس چې وویل شول، جمعیت اصلاح نه یوازې دا چې د هېواد په سیاسي چارو کې ګډون اړین کار ګڼي بلکې هیله لري، چې د هېواد سیاسي فضا له اوسنیو خپلسریو او ګډوډیو څخه خلاصه او د نافذه قوانینو او اصولو تابع شي، څو له یوه پلوه د هېواد هر وګړي ته په سیاسي فعالیتونو کې د ګډون زمینه برابره شي او له بل پلوه زمونږ سیاست او سیاسي کار د ملت د ګټو پر محور وڅرخي.

## قومي او مذهبي تنوع او د دینونو ګڼ والی:

له نېکه مرغه افغانستان داسې هېواد دی، چې له دیني اړخه ستونزه نه لري او ۹۹ سلنه وګړي يې مسلمانان او له يوې سلنې څخه څه کم يې هندوان او سيکان دي، چې د تاريخ په اوږدو کې يې په خپلو مذهبي مسايلو کې د آزادۍ ساتلو ترڅنګ، د هېواد اساسي قانون او ټولو قوانينو ته ژمن پاتې شوي، پدې اړه يې کومه ستونزه هم نده درلودلې او تردې وروسته هم کولی شي په همدې بڼه دوام ورکړي.

اما د افغانستان خلک په عامه توګه د هغو نړيوالو هڅو سخت مخالف دي، چې په بهرني تمويل او ملاتړ لومړی زمونږ په هېواد کې د يوه نوي ديني اقليت د پيدا کولو او وروسته بيا شايد هغوی ته د مشروعيت ورکولو په هڅه کې وي، دغه تبشيري هڅې نه يوازې دا چې د اسلام له لارښونو سره په ښکاره مخالفت کې دي، بلکې د ټولنې د بې ثباتۍ او ناکرارۍ لامل هم کېږي له همدې امله جمعيت اصلاح له ټولو هغو تبشيري هڅو سره چې موخه يې په هېواد کې د نويو ديني فرقو رامنځ ته کول وي مخالف دی او پر ضد به يې مبارزه کوي.

اما د اسلامي مذاهبو په اړه زمونږ تګلاره په تسامح او د يوبل په منلو ولاړه ده، د افغانستان د وګړو اکثريت د اهل سنت

والجماعت په دایره کې دي او په فقه کې د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله د مذهب پیروان دي، له هغه ځایه چې جمعیت اصلاح ( د فرد اصلاح، د کورنۍ اصلاح او د ټولنې اصلاح) ستر شعار پورته کړی، ځان په فرعي او وړو وړو مذهبي مسایلو نه مصروفوي، په فقهي مسایلو کې د امام ابوحنیفه رحمه الله په مذهب عمل کوي او په عین وخت کې د اهل سنت او جماعت ټول مذاهب حق ګڼي او د نورو مذاهبو پر وړاندې هیڅ راز تعصب په رسمیت نه پیژني، جمعیت اصلاح هڅه کوي، څو د خپلو افرادو وخت او توان او خپل مادي او معنوي امکانات له شرک، نفاق، بدعت، اخلاقي مفاسدو، ظلم، بې عدالتیو او نور اجتماعي ستونزو سره په مبارزه کې ولګوي.

زمونږ هغه هېوادوال چې د شیعه مذهب پیروان دي، زمونږ د هېواد د ویاړلي تاریخ په اوږدو کې له اهل سنت سره په سوله او دوستۍ کې ژوند کړی، مونږ پدې باور یو چې تردې وروسته هم اهل سنت او اهل تشیع باید په سوله او ډاډ کې د یوبل ترڅنګ ژوند وکړي او پرینږدي چې بهرنۍ توطیې زمونږ دوستانه فضا خرابه کړي.

همدا ډول افغانستان هغه هېواد دی چې د قومي تنوع له اړخه له مختلفو قومونو او نژادونو څخه جوړ دی خو د پېړیو په

اوږدو کې يې د اسلام تر سیوري لاندې د ورونو په څیر ګډ ژوند کړی دی، سره لدې چې حکومتونو کله نا کله د سیاسي دلایلو او شخصي مصلحتونو پر اساس ځینې قومونه ځورولي، چې د افغانستان وګړي د هغو له دې غلطو کړنو څخه بېزاره دی، خو الحمدلله د ملت ترمنځ کومه ستونزه شتون نه لري او ټولو قومونو د ورونو په څیر اوږه په اوږه، د هېواد د آبادۍ لپاره کار کړی، لکه چې د اسلامي امت د تاریخ په اوږدو کې هم له مختلفو نژادونو او قومونو څخه شخصیتونو ونډه درلوده، ځکه چې هغوی وړتیا، وفا او د یو بل زغملو قوت درلود.

مونږ د تعدد منني په چوکاټ کې ګڼو توکمونو، مختلفو قومونو او مذهبونو ته د انتساب قضیه د اسلام له نظره ستونزه نه ګڼو، ټول انسانان د پیدایښت په جوهر کې سره مساوي دي او د غوره والي معیار یوازې تقوا دی، اسلامی ثوابت د تل لپاره د هغه غوړېدلي څادر بڼه لري چې د هېواد ټول بچیان او د هغوی آرمانونه په خپل سیوري کې را نیسي او هېڅ ډول تبعیض، چې د رنګ، وینې او جنس پر اساس وي، په رسمیت نه پیژني.

جمعیت اصلاح په دې اند دی، چې که له قومي، مذهبي او ګوندیزه تنوع سره چلند په لاندې اصولو ولاړ وي نو پدې اړه به هېڅ ستونزه پاتې نه شي:

- مخالفې رأیې ته درناوی، ترهغې چې د دیني ثوابتو او ملي ګټو له سرې کرښې څخه پښه ونه اړوي.
- د خپل منځي خبرو اترو، یو بل ته تېرېدنه او زغم روحیه پیاوړې کول او په دې ټینګار کول چې هر څوک دې خپل ځانګړي باورونه او معتقدات وساتي او په عین حال کې دې خپلو وطني او ملي مصالحو ته هم ژمن پاتې شي.
- د دینداری او قومپالنې د لیدلوري ترمنځ توازن ساتل، په دې معنا، چې دینداري په انساني نفس کې د کشش اصلي قوه وبلل شي او عباداتو ته ژمنتیا، سلوک، انساني لوړ ارزښتونه، له نورو سره اړیکې او له مقابل اړخ سره د خبرو اترو په معنا وي، په داسې حال کې چې قوم او وطن سره مینه هم یوه طبیعي غریزه ده، نو که قوم پالنه انسان تعصب، محدودیدلو، له نورو وېره لرلو او نورو ته بد نظر کولو ته رسوي، دغه ډول قومپالنه د دینداری نه، بلکې له دین څخه د ناسم پوهاوي له نښو څخه ده.
- د هېواد د اتباعو د ګډ ژوند روحیه پیاوړې کول او د حقوقو او واجباتو په برخه کې د مساوات پر اصل باور لرل، په ګمارنو کې د اهلیت او کفایت اصل په نظر کې نیولو ترڅنګ په ټولو سیاسي، اقتصادي، تعلیمي، پوځي او امنیتي

ادارو کې د هېواد د ټولو اوسېدونکو لپاره د مشارکت مساوي فرصتونو برابرول، پرته له دې چې د هغوی، قوم، نژاد او مذهب په نظر کې ونیول شي.

- د ژوند یو ډول فرصتونه برابرول او د قانون په وړاندې کامل مساوات د هېواد د ټولو اوسېدونکو حق دی او په دې برخه کې باید د هغوی ترمینځ هېڅ راز توپیر شتون ونه لري.

**تاو تریخوالی او تروریزم**:

جمعیت اصلاح افغانستان هر ډول تاو تریخوالی محکوموي او په مظلومانو باندې هر ډول ظلم، چې له هر لوري او مصدر څخه او د هرې انگیزې پر اساس وي، مردود گڼي، دغه دریځ د هغه پوهاوي او فهم پر اساس دی چې مونږ یې د اسلام له ارزښتونو او لارښوونو څخه لرو.

جمعیت اصلاح د ټولنیزې اصلاح لپاره تاوتریخوالی او له تشدد نه ډکې کړنې ردوي او هغه یوازې له هېواد او د خلکو د دیني او ملي ناموس څخه د دفاع په لاره کې روا گڼي، خو په دعوتي میدان او سیاسي کړنلارو کې په سوله ییزو وسایلو، او پر حکمت او نیکه موعظه ولاړ دعوت باندې ټینگ باور او التزام لري.

«ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ

بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ» [النحل:١٢٥]

(ته د خپل رب لارې ته په حکمت سره او ښکلي نصیحت سره بلنه کوه او له دوی سره په هغې طریقې سره مجادله (مباحثه) کوه چې هغه تر ټولو ښه وي).

په همدې بنسټ مونږ آرامې او په دلیل ولاړې خبرې اترې خپلو ټولنیزو، دعوتي او سیاسي برنامو ته د رسېدو یوازېنۍ لاره ګڼو، مونږ باور لرو، چې د بدیو له منځه وړل، له تاوتریخوالي او ټولنیزو ظلمونو سره مبارزه او د ټولنې اصلاح باید پر حکمت او نېکه موعظه ولاړ دعوت له لارې ترسره شي، مونږ ټول لوري په دریځ نیونه، خبرو او پلویتوب کې اعتدال او منځلاریتوب او د هر راز افراط او غلو نه ډډې کولو ته رابولو.

«وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ» [البقرة:١٤٣]

(او همدارنګه مونږه تاسو غوره امت جوړ کړي یاست ( نه په دین کې افراط او غلو کوئ او نه تفریط او تعطیل پیژنئ ) د دې لپاره چې تاسو په خلکو باندې شاهِدان (ګواهان) شئ، او رسول پر تاسې باندې ګواه شي).

اسلام په نرم خویي او آن له حیواناتو سره په مینه او نرم چلند امر کوي او پر نورو له تیري څخه منع کوي.

«إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ».٦

(رفق او نرمي چې په هر كار كې وي هغه ښايسته كوي او له هر كار څخه چې لرې شي هغه بدرنگوي.)

او هر ډول تاو تريخوالی ردوي ځكه:

«إِنَّ هَذَا الدِّينَ مَتِينٌ فَأَوْغِلْ فِيهِ بِرِفْقٍ، فَإِنَّ الْمُنْبَتَّ لاَ أَرْضًا قَطَعَ، وَلاَ ظَهْرًا أَبْقَى».٧

(دا دين محكم دی نو په هغه كې په نرمۍ سره داخل شئ، ځكه هغه څوک چې په دين كې سختي كوي د هغه سپاره كس په ډول دی، چې د خپلې سورلۍ څاروی له اندازې تېز ځغلوي او په دې توگه نه ډېره مسافه وهلی شي او نه خپله سورلۍ روغه ځای ته رسولی شي).

«إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنْ الدُّلْجَةِ».٨

(دين آسان دی او څوک يې چې ځان ته سخت كړي، آخر كې به ستړی او ستومانه شي، ځكه نو نېغه لار او منځلاري دې

---

٦): صحيح مسلم؛ باب فَضْلِ الرِّفْقِ.

٧): سنن الكبرى؛ د بيهقي؛ د جابر بن عبدالله په روايت سره.

٨): صحيح البخاري؛ بَاب الدِّينُ يُسْرٌ.

غوره کړي، له همدې امله خوشحاله اوسئ او د سهار او ماښام عبادت ترسره او د شپې په کمه برخه کې عبادت کوئ).

«يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا».٩

(د دين په چارو کې آساني وکړئ، سختي مه کوئ، زيري ورکړئ او کرکه مه خپروئ)

«مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَينْ َأَمْرَيْنِ إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا».١٠

(کله به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د دوو کارونو ترمنځ د يو د انتخاب اختيار ورکړل شو نو هغه به آسانه انتخابوه، که چېرته به گناه نه وه)

نو په همدې اساس تل د شريعت په چوکاټ او د مباحو او تيريدنې په دايره کې آساني کول او زيري ورکول، به زمونږ انتخاب وي، مونږ به د خپل ملت د جوړونې لپاره (هغه که فرد وي، که ټولنه او يا حکومت )، د اسلامي ټينگو اصولو او د دغې زمانې چې په کې ژوند کوو په فضا کې او د هغه فهم په رڼا کې چې له شريعت څخه يې لرو اجتهاد کوو.

---

٩): صحيح البخاري؛ بَاب مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَخَوَّلُهُمْ بِالْمَوْعِظَةِ وَالْعِلْمِ كَيْ لَا يَنْفِرُوا.

١٠): صحيح البخاري؛ بَاب صِفَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

جمعیت اصلاح د ترور او وېرې اچونې پدیده په ټولیزه توگه ردوي، هغه که دولتي تروریزم وي او که د افرادو او ډلو لخوا عملي شي او ټول رابولي، چې په گډه دې دغې پدیدې ته څرگند تعریف ورکړي، تر څو دغه توری له کمزورو سره د جگړې او د پردیو د برنامود پلي کېدو وسیله نه شي.

اصلا تروریزم یوه نوې اصطلاح ده، چې د تعریف په اړه یې د نړۍ په بیلابیلو هېوادونو کې زیات اختلافات موجود دي، ولې د ټولو تعریفونو ترمنځ مشترک ټکی دا دی، چې: د سیاسي موخو د ترلاسه کولو لپاره پر بېگناه خلکو تېری، د هغوی اختطاف کول، وېرول، زیان وررسول او یا په داسې موضوعاتو یې وژل چې هغوی ورسره هېڅ اړیکه نه لري.

نو ویلی شو، چې اسلام په ټولیز ډول تروریزم ردوي، ځکه اسلام په یو فرد یا ټولنې ظلم او تیری نه مني، خو کله چې پر خلکو تېری کېږي، عزت، حقوق او دین یې تر پښو لاندې کېږي او هېواد یې اشغالېږي او په دې تېري کې ټول هغه شیان چې ترور او تاوتریخوالی حسابېږي، شامل وي، نو په داسې حالت کې مسلمان حق لري، چې له تیري سره بالمثل مقابله وکړي ځکه الله تعالی فرمایي:

«فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُوا عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ»

[البقرة:١٩٤]

(پس چا چې پر تاسې تېرى وکړ، نو تاسو په هغه باندې (په ځواب کې) تېرى وکړئ په مثل د هغه چې هغه پر تاسو باندې تېرى کړى دى)

مونږ ترور او وحشت ردوو، آن که دغه ترور د واکمن ځواک له لوري د استبدادي طبيعت او يا هم د بهرنيو فشارونو او توطيو پر اساس په داخل کې د سياسي او ټولنيزو جريانونو پر ضد وکارول شي.

د آزادۍ حق، له خپلې خاورې نه د دفاع او د حکومتي نظام د ټاکنې حق، هغه فطري او منل شوي حقونه دي، چې الهي شريعت ملتونو ته ورکړي دي او په نړيوالو تړونونو، حقوقي مرکزونو او سازمانونو کې تاييد شوي او ټينګار پرې شوى دى.

**د بشر د حقوقو په اړه زمونږ نظر**:

اسلام د بشر حقوقو ته د احترام او د هغو د خوندي کولو په برخه کې مخکښ دين دى او د حجة الوداع پر مهال د رسول الله صلى الله عليه وسلم خطبه د بشر د حقوقو د ساتنې او د هر ډول ظلم او تېري د منع کولو لومړنۍ او غوره وثيقه ده، مونږ غواړو، چې د اخلاقي او قانوني نظام په چوکاټ کې دغو حقوقو ته د لاسرسي لار، د هرچا پرمخ پرانيزو، او په دې باور يو، چې د

انسان قانوني آزادي، هر ډول خير، نېکۍ، سوکالۍ او نوښت ته د رسيدلو يوازينۍ وسيله ده.

له بده مرغه هغه ظلم او وحشت چې په اوسني عصر کې دوام لري، ډېر يې د نورو له لوري پر مسلمانانو ترسره کېږي، نه د مسلمانانو لخوا پر بل چا، مونږ له ټولو هوښيارو او عقلمنو وګړو څخه چې په هر ځای کې ژوند کوي، غوښتنه کوو، چې خپل غږ پورته کړي او خلک د برابري، حقوقو او ازاديو ترلاسه کولو لور ته راوبولي، ځکه دغه راز برابری نړيوالې سولې او ټولنيز ثبات ته د رسيدلو او د نړيوال عادلانه نظام د جوړېدو يوازينۍ لار ده، هغه نظام چې په هغه کې ظلم، زيان رسونه او تېری لار ونلري.

د بشر د حقوقو نړيوالې اعلاميې ته، تر هغه ځايه چې د هېواد د اساسي قانون د دريمې مادې له مخې له اسلامي احکامو او معتقداتو سره په ټکر کې نه وي، درنښت لرو، اما د مسلمانو حقوق پوهانو له انده ياده اعلاميه ډېرې کمۍ او نواقص لري چې سترګې پرې نشو پټولی، له همدې امله د بشر د حقوقو اسلامي اعلاميه[1]، چې د اسلامي هېوادونو د کنفرانس سازمان لخوا صادره شوې ده، له دې اعلاميې څخه ډېره جامع او عادلانه

---

[1]: دغه اعلاميه په www.islamichr.org/PageItem سايټ او نورو سايټونو کې په فارسي ژبه خپره شوې ده.

ګڼو. مونږ ټولو انسانانو ته له هر ډول تعبيض پرته د بشر د حقوقو د برابرۍ ورکړې پلوي يو او لدې سره مخالف يو، چې ځواکمن هېوادونه د بشر د حقوقو له عنوان نه د کمزورو ملتونو د ټکولو او پر هغوی د تسلط او برلاسۍ لپاره د فشار د وسيلې په توګه کار واخلي.

**د احکامو پېژندلو لار**:

جمعيت اصلاح، د دين احکام او حرام او حلال، د شريعت له مصادرو ( قرآن کريم، سنتو، اجماع او قياس) څخه د معتمدو علماؤ او مجتهدينو د فهم مطابق د امت د سلف صالح څخه په پيروۍ د اجتهاد په قبول شوو چوکاټونو کې ـ په فقه او اصول فقه کې يې تفصيل شته دی ـ پېژني او عملي کوي يې، په نويو او عصري مسايلو کې چې په مقطعي مصالحو او مفاسدو پورې اړه لري د اسلامي امت د معاصرو باوري علماؤ د نظر پيروي کوي.

# هر اړخيزه اصلاح

«إِن إرِيدُ إِلاّ الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ »﴿هود ۸۸﴾

(زه يوازې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس وي او زما توفيق يوازې د الله په مدد سره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هغه ته رجوع کوم)

د جمعيت اصلاح بنسټيز شعار، د پورتني آيت په رڼا کې، د ځان اصلاح، د کورنۍ اصلاح، د ټولنې اصلاح او د نظام اصلاح ده، جمعيت اصلاح په دې باور دی، چې هر اړخيزه اصلاح يوه ملي، وطني او اسلامي غوښتنه ده او زمونږ ملت بايد له همدغې لارې خپل نوښت په کار واچوي او د اصلاح په لور داسې خوځښت پيل کړي، چې ټول آرمانونه يې د يو آزاد او عزتمند ژوند په غيږ کې پوره شي، سوکالي، آزادي، عدالت، برابری او شورا منځ ته راوړي، هيڅ حکومت او سياسي ځواک په يوازې ځان نشي کولی د سياسي اصلاح په ډګر کې بريالی شي، بلکې دا يو داسې مسؤوليت دی چې ټول يې بايد په ادا کولو کې ونډه واخلي، ځکه په هېواد کې د ملي ګټو ساتنه د اوسني وخت يوه فريضه ده، يوازې لدې امله فرض نده، چې مونږ د هغو هدفمنو توطيو په وړاندې ودرېږو چې د افغانستان د دښمنانو لخوا

سیمې ته متوجه دي، بلکې زمونږ د کمزوریو د جبران او د ټولنې د مشکلاتو د درملنې په موخه هم دغه مقاومت پرمونږ فرض ده.

### د ټولنیزې اصلاح بنسټونه:

دا چې د ټولنیزې اصلاح کړۍ باید د سیاسي، کلتوري او اقتصادی اصلاح ترڅنګ ځای ونیسي، مونږ په خپله ټولنیزه تمدني پروسه کې په لاندې بنسټونو ټینګار کوو:

### ۱- له ړانده تقلید او پیروۍ څخه ځان ساتنه:

زمونږ اصلاحي طرحه په خپل ټولنیز چوکاټ کې د ټولنیز تقلید څخه د ځان ژغورنې پر بنسټ ولاړه ده، ځکه چې ړوند تقلید نه د شرعي نصوصو پر اساس درست دی او نه یې د عقل او حکمت رڼا تائیدوي، نو د هغو هېوادونو، چې د علومو او ټکنالوژۍ په ډګر کې یې پرمختګ کړی، ړوند تقلید او په هر څه کې هغوی پسې تلل او د هغوی ګام په ګام پیروي، مردوده او د منلو وړ نه ده، عقلي خپلواکي چې هر شیز د حق په تله او د علم په رڼا سنجوي، یوازینۍ کړنلاره ده، چې زمونږ په ټولنیزو اخلاقو او رسمي تګلارو باید کنټرول ولري، ترڅو ټولنه د حقیقي پرمختګ او بریالیتوب لاره په مخکې ونیسي.

په عامه توګه د " خذ ما صفا و دع ما کدر" (څه چې پاک

دي وایې اخله او څه چې نا پاک او بې کاره دي، لرې یې وغورځوه) قاعده د نورو له لاس ته راوړنو سره د تعامل ښه بنسټ دی.

## ۲- له ظلم او بې عدالتۍ سره مبارزه:

زمونږ تمدني طرحې په افرادو کې د نفس د عزت او ظلم او سپکاوي ته نه تسلیمېدلو احساس ژورول او قوي کول، په خپلو کاري لومړیتوبونو کې ځای کړی، زمونږ په اند د ټولنې وګړي باید په همدې احساس وروزل شي چې له ظالم څخه کرکه ولري او له مظلوم څخه ملاتړ وکړي، قرآن عظیم الشان په دې اړه څه ښه وایي:

«وَالَّذِينَ إِذَا أَصَابَهُمُ الْبَغْيُ هُمْ يَنْتَصِرُونَ (٣٩) وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا» [الشورى:٣٨-٤٠]

(او د هغو کسانو لپاره چې دوی ته (د کافرانو له خوا) ظلم ورسېږي (نو) دوی (له هغو نه) انتقام اخلي (٣٩) او د بدۍ بدله د هغې په شان بدي ده).

یوازې هغه ملتونه د پرمختګ او انساني تمدن لوړو څوکو ته لار موندلی شي، چې ظلم او تیری یوې څنډې ته پرېږدي، د عدالت او انصاف پلي کول خپل هدف وګرځوي.

## ۳- له انساني تجربو څخه ګټه اخيستنه:

ژوندي ملتونه همېشه د خپلو مادي او معنوي لاس ته راوړنو په خپل منځي راکړه ورکړه کې سره همکار وي او د يوبل له مثبتو لاسته راوړنو څخه ګټه اخلي، اسلامي لوړ تمدن له نورو تمدنونو سره د يوه انساني تمدن د همکارۍ ستره نمونه ده، مسلمانانو په جزيرة العرب کې د اسلامي دولت د جوړيدو له پيل نه له نورو څخه ډير څه واخيستل، هغو ته يې رشد او وده ورکړه او بيا يې له نورو سره شريک کړل.

همدا راز يې د اسلامی تمدن ډير څه، له قيد او شرط پرته نورو ملتونو ته ورکړل، مسلمانان نن سبا هم له داسې اخيستنو او ورکونو سره ستونزه نه لري، په دې شرط چې دغه ګټه اخيستنه په خپله خوښه او اختيار وي نه د زور او فشار له لارې[١٢]، او د هغو تفصيلاتو مطابق وي .

مونږ د نورو ملتونو له علمي اوتکنالوژيکي لاسته راوړنو څخه له استفادې او د سياست او حکومت په ډګر کې د هغوی له کاميابو او مثبتو تجربو څخه له ګټې اخيستنې سره ستونره

---

[١٢]: استاذ مالک بن نبي په خپل کتاب «شروط النهضة» په دې اړه په تفصيل خبره کړې ده او په دې اړه يې ډېر جالب ضوابط وضع کړي دي چې هغو ته مراجعه کول ګټور کار دی.

نلرو، ځکه انساني تجربې د تحلیل او ارزونې وړ دي او مونږ د بشري تجربو د تحلیل او ارزونې له لارې کولی شو د هغو ګټور او ښه څیزونه تشخیص کړو او ګټه ترې واخلو او مضر او ناوړه شیان یې رد کړو.

مونږ د لویدیځ له الحادي عقایدو او فاسدو اخلاقو سره ستونزه لرو، ځکه چې زمونږ له دیني او ملي ارزښتونو سره په ټکر کې دي او مونږ یې په هیڅ ډول منلی نشو، یا په بل عبارت مونږ د خپلو دیني او ملي ارزښتونو د خوندي پاتې کېدو په شرط د غربي تمدن په ګډون د نورو تمدنونو له مثبتو لاسته راوړنو څخه ګټه اخلو، خو د هغه فکري او کلتوري یرغل سره مخالف یو، چې موخه یې د افغانستان غربي کول او له لوړو ارزښتونو او اخلاقو څخه لرې کول دي.

### ۴- تکافل او لاسنیوی:

اساسي خبره دا ده چې دولت باید د خلکو د ستونزو حلولو لکه: تعلیم، روغتیا، هستوګنځی او بېوزلو کورنیو سره مالي مرسته کې تر ټولو ډېره برخه واخلي، اما د دولت کوښښ، په عادي حالاتو کې هم د تکافل او تراحم پر بنسټ جوړو شویو ټولنیزو سازمانونو له رامنځ ته کولو څخه بې نیازه کولی نشي، دغه قضیه زمونږ د وطني او ملي پروژو له اساسي برناموڅخه ده،

د زکات چې فرضي حق دی، نظام فعالول زمونږ د برنامو په سر کې قرار لري، د فقر په له منځه وړلو او د خلکو د اړتیاوو پوره کولو په برخه کې د زکات رول، د ټکس او مالیې له رول نه کم ندی ، چې دولت یې د وګړو د عامو اړتیاوو پوره کولو په موخه ټاکي، د زکات د وېش بنسټونه او اداري جوړولو کې چې د زکات ورکوونکو او اخیستونکو ترمنځ د پل حیثیت لري، ډېره نازکه رواني معنا پرته ده، ځکه اسلام کوښښ کوي چې زکات اخیستونکی له رواني فشار او د کمترۍ له احساس څخه وژغوري، چې د زکات اخیستنې پرمهال ورته پیدا کیږي، له همدې امله زکات ورکوونکي تنبیه کوي چې خپل زکات په احسان بارولو او منت ایښودلو باطل نه کړي.

په متکافله او زړه سوانده ټولنه کې چې فقر او بېوزلي له منځه ځي، د مینې او مهربانۍ کاروان له محبت نه ډک انساني مسیر کې پرمخ روان وي ترڅو په پای کې ځان یوې لار پرانستوونکې تمدني پروژې ته ورسوي.

## د اصلاح ډګرونه

هر اړخیزه اصلاح ټولو هغو ډګرونو ته شامله ده چې په یوه نه یوه بڼه، زمونږ له مادي او معنوي ژوند سره تړاو لري، خو زمونږ په اند هغه ډګرونه چې ډېر لومړیتوب لري، په لاندې توګه دي:

**سیاست او حکومتولي**:

اسلام له سیاست څخه ځان بیلول او په خاصه دایره پورې محدودیدل په رسمیت نه پېژني، هر اسلامي خوځښت او سازمان ته په کار دي، چې د امت سیاسي او ټولنیزو چارو ته رسېدنه د خپلو پروګرامونو په سر کې ځای کړي او که په دې باور نه وي نو بیا دې د اسلام په اړه خپل فهم او پوهاوي ته بیا کتنه وکړي، په همدې اساس مونږ سیاسي یو، په دې معنا چې د خپل ولس چارو ته پاملرنه کوو، باور لرو، چې اجرائیه قوه او ملي عزت زمونږ د دین له ارکانو څخه یو رکن او له فرایضو څخه یو فرض دی، او مونږ به د اجرائیه قوې او ادارو د آزادۍ او اصلاح لپاره خامخا هڅه او کار کوو.

مونږ په دې باور یو چې د حکومت د ناوړه کړنو په وړاندې چوپتیا جرم او د هغه د اصلاح غوښتنه یو اسلامي واجب دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم حکومت د اسلام له کړیو څخه یوه

کړۍ شمېرلې ده او زمونږ د فقهې په کتابونو کې د خليفه د ټاکنې قضيه د عقايدو او اصولو په برخه کې راغلې نه په فرعي او فقهي مسايلو کې.

له بده مرغه په وروستيو کلونو کې زمونږ د هېواد سياسي فضا تر ډېره مصلحتي او مافيايي شوې ده او چارواکي خلکو ته د رېښتيني خدمت پر ځای له يوه پلوه د خپلو مخالفينو او رقيبانو ټکولو او بل پلو ته د عامه شتمنۍ په لوټ او اختلاس مصروف دي، مونږ غواړو چې زمونږ چارواکي د پيسو ټولولو پر ځای خپلې اصلي دندې ته چې د خلکو خدمت دی، مخه کړي، د هېواد سياست بايد د څو پانګوالو، شخصي ګټو پالونکو او پرديپالو په ګرو کې پاتې نه شي، بلکې د خدمت ډګر بايد د دې هېواد د ټولو رښتينو او کارپوهو بچيانو په وړاندې په يو ډول او په ټولو سطوحو کې پرانستی وي، د ټاکنيز سيستم د شفافيت په خاطر بايد ګڼ تضمينونه رامنځ ته شي او د شفافو ټاکنو په ترڅ کې رامنځ ته شوي حکومت ته فرصت ورکړل شي، چې خپله کاري دوره بشپړه کړي.

سياسي اپوزيسيون بايد د پارلمان، رسنيو او نورو لارو د حکومت په سياستونو او کړنو څارنه ولري او پرينږدي څو د قوانينو او ارزښتونو له پولو پښه واړوي.

## اداري اصلاحات او له فساد سره مبارزه:

کامیابه اداره د دولتونو د پرمختګ او بریالیتوب بنسټیز عامل ګڼلی شي، او برعکس ناکامه اداره د دولتونو د ناکامۍ او وروسته پاتې والي بنسټیز عامل وي، د مخ په وده هېوادونو تجربو ثابته کړې ده، چې د هغوی د پرمختګ په وړاندې ستر مشکل اداري کمزورۍ او ستره تشه ده، چې له امله یې د پرمختیایي پلانونو د غوښتنو، عملي کولو او څارلو او د هغو کسانو د وړتیا او توانمندۍ ترمنځ ستر توپیر شتون لري، چې مهمې دندې او مسؤولیتونه یې په اوږو دي.

ددې ترڅنګ هغه اداري فساد او ستونزې چې له دغې ناخوالې را پیدا کېږي د هېوادونو د پرمختګ په وړاندې ستونزې نورې هم زیاتوي.

دا ټول لاملونه د دې باعث کېږي، چې د پلانونو د پلي کولو کچه د دغې دستګاه د ټولیز اداري ځواک او توان تر حده را ټیټه شي، ځکه نو ښه دولتونه باید د اداري جوړښتونو د کړنو او فعالیتونو د ښه کولو په موخه د هغوی تنظیمي، تقنیني او بشري ځواک قضیې ته پوره پاملرنه وکړي، تر څو د پرمختیایي، اقتصادي او بریالیو ټولنیزو پروګرامونو د اجراء اوڅارنې لپاره مناسب توان او ظرفیت ومومي.

### په فرهنګي او رسنيز ډګر کې:

رسنۍ له نورو ښوونيزو او روزنيزو بنسټونو سره د هېواد د سترو قضاياوو په اړه د ټولنې په عامه ذهنيت جوړونه او عمومي دريځ نيونه کې همغږه حرکت کوي، نو ځکه خو بايد دواړه د ملت په خدمت کې وي.

د سالمو افکارو پر بنسټ د ټولنې جوړونه او د ملي يووالي ټينګښت د رسنيو له دندو څخه ده، همدا ډول خلکو ته د سمو او دقيقو معلوماتو برابرول چې له ملي او اسلامي ارزښتونو سره سرخوري، د رسنيو له رسالت څخه دی.

د افغانستان په جګړه ايزو شرايطو کې د ټولنې مختلفو ډلو او طبقو ترمنځ د خبرو اترو روحيه ژوندۍ کول او د سولې او ملي پخلاينې په لور د ټولنې برابرول د رسنيو له وظايفو څخه ده.

زمونږ ګران هېواد افغانستان، له وروستۍ يوې نيمې لسيزې بدلونونو څخه وروسته، د ډلييزو رسنيو په برخه کې د کمي او کيفي پراختيا شاهد دی، او د رسنيو رول او اغيز هم په ټولنه کې ورځ تر بلې په زياتيدو دی.

د اساسي قانون او نورو قوانينو پر بنسټ، د بيان د ازادۍ له حق نه استفادې او د چاپي، غږيزو او انځوريزو رسنيو د تاسيس سربيره، ټولنيزو شبکو هم ستر رسنيز خوځښت په

افغانستان کې منځ ته راوړ چې د ملاتړ، توجیه، سمونې او ترشید مستحق دی.

له دغه ځایه جمعیت اصلاح افغانستان د ټولنې د پرمختګ او انکشاف په اړه د ډلییزو رسنیو په رول ټینګار کوي او د اساسي قانون او نورو قوانینو په دایره کې د ډلییزو رسنیو غوځ ملاتړ خپله دنده او رسالت ګڼي.

جمعیت اصلاح افغانستان د قانون په چوکاټ کې د بیان د ازادۍ له اصل څخه چې له دیني ارزښتونو او د ټولنې له مثبت کلتور سره سمون ولري، ساتنه او ملاتړ کوي او د بیان او تعبیر ازادي، د ټولنې او نظام د ودې او ټینګښت لپاره بنسټیز ضرورت ګڼي.

له ډلییزو رسنیو څخه د ملاتړ او د هغو د کمي او کیفي پیاوړتیا او د بیان د ازادۍ د اصل پر تقویېد اصرار ترڅنګ، جمعیت اصلاح افغانستان، د رسنیو د خپرونو اصلاح ، تهذیب او ترشید په داسې توګه چې د اسلام د دین له ارزښتونو، د اساسي قانون او نورو قوانینو له احکامو، ملي ګټو او مثبتو کلتوري ارزښتونو سره همغږي شي، لازم او ضروري ګڼي، څو رسنۍ د خیر او نیکي په لور د ټولنې د توجیه او جهت ورکولو او د مثبتو ارزښتونو د ترسیخ په اړه خپل رول ادا کړي.

دغه کار سرته رسول، دقیقه او هراړخیزه مطالعه او برنامه جوړونه غواړي چې جمعیت اصلاح افغانستان پدې برخه کې له اړوندو او مربوطو جهتونو سره د هڅو شریکولو ته چمتو دی.

په فرهنگي برخه کې زمونږ ستره ستونزه د داخلي تولیداتو نه شتون او په فلم، سریال، ډرامو او نورو ډگرونو کې په بهرنیو تولیداتو له اندازې زیاته تکیه ده، که وضعیت په همدې بڼه دوام ومومي زمونږ ټولنه به د هویت له تشې او کلتوري گډوډۍ سره مخ شي، د اطلاعاتو او کلتور وزارت او د هېواد رسنۍ چې څومره زر کولی شي په دې ډگر کې دې پانگونه وکړي او د فلم، سریال او ټولو سینمایي هنري تولید له لارې دې داسې برنامه جوړه کړي چې زمونږ د ټولنې کلتوري شرایطو ته ځواب ووایي او دغه کلتوري ـ هنري خطرناک ابتذال ته د پای ټکی کېږدي.

**د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو په برخه کې:**

د صالحو او متعهدو نسلونو د جوړښت او د راتلونکي قیادت لپاره د هغوی د تیارولو او د خلکو په ژوند کې د بنسټیز بدلون راوستلو لپاره ښوونه او روزنه اساسي کار دی.

له همدې امله ـ له ښوونځي تر پوهنتونه ـ د سمو ښوونیزو برنامو ټاکنه اړین کار دی، پداسې توگه چې دغه ښوونیزې برنامې وتوانیږي، د عصر غوښتنو ته د ځواب ویلو ترڅنگ هغه

روزنيز اهداف چې اسلامي عقېده او افغاني کلتور يې غوښتنه کوي، هم ترلاسه کړي، سالمه روزنه بايد ټولنې ته صالح انسان وړاندې کړي، داسې انسان چې په بدني لحاظ قوي، له اخلاقي لحاظه دروند او با وقاره ، له فکري لحاظه روښانه او د سالمې عقيدې درلودونکی وي، دغه راز عابد بنده او د خدای تعالی فرمان منونکی وي، په خپل فردي ژوند کې منظم او نورو ته گټه رسوونکی وي، اسلامي ښوونه او روزنه د فرد د شخصيت هر اړخيزه وده غواړي، چې بايد ټولو اړخونو ته يې په ځانگړې توگه د ښوونځي په دوران کې، جدي توجه وشي او هغه ډېر مهم يې په لاندې ډول دي:

**بدني وده:** زده کوونکو ته له مناسبو لارو نه د روغتيا او سلامتيا سيستم برابرول او د ناروغيو لمنځه وړل او هغوی ته د ورزش او ښې تغذيې زمينه جوړول.

**عقلي او عقيدوي وده:** زده کوونکي بايد په عقيدوي بيماريو له اخته کيدو او ذهني شاته پاتې کيدو څخه وژغورل شي او د علمي او ابتکاري افکارو ته د رسيدو په موخه ورته د منطقي تفکير زمينه برابره شي.

**روحي وده:** زده کوونکي پدې خبره د پوهولو له لارې، چې دوی تل الله تعالی ته اړ دي، د معنوياتو لاس ته راوړلو او د الله متعال

د نعمتونو پر وړاندې شکر ویستلو ته وهڅول شي.

**اخلاقي وده:** له اخلاقي فضایلو سره د تړاو او له رذایلو او بدیو نه د لیرې والي له لارې، زده کوونکي په ټولنیزو ښو آدابو روزل او لدې سره بلدول چې خپل ظاهر او باطن باید له منکراتو او بدیو څخه پاک کړي.

**د ارادې پیاوړي کول:** د حرامو کارونو پریښودلو، فرایض او واجبات سرته رسولو ، په ستونزو کې په صبر کولو، په وعده باندې د دریدو او نورو چارو له لارې په زده کوونکو کې د ارادې پیاوړي کول.

**د نوښتگری ( خلاقیت ) د توان وده:** په هنري، فني او علمي چارو کې د کایناتو پدیدو ته د زده کوونکو د توجه اړولو او د هغوی د استعدادونو د رابرسیره کولو له لارې په هغوی کې د ابتکار او نوښت روحیې پیاوړې کولو فرصتونه ایجادول.

جمعیت اصلاح افغانستان باور لري چې د هېواد تعلیمي نظام باید داسې برابر شي چې په پایله کې متخصص او مومن ځوانان، د هېواد د خدمت لپاره وړاندې کړي.

دغې هیلې ته د رسیدو په موخه باید لاندې گامونه پورته شي:

- تعلیمي نصاب او د ښوونځیو درسي کتابونو ته داسې پراختیا ورکول، چې له دیني، کلتوري او ملي ارزښتونو سره

موافق وي او د اوسني عصر سره سم د زده کوونکو اړتیاوې ځواب کړي.

- د هېواد په تعلیمي نصاب کې د سیاسي ملحوظاتو او بهرنیو فشارونو په نظر کې نیولو پر ځای، دیني ارزښتونو او ملي گټو ته لومړیتوب ورکړل شي.
- د متوازن نصاب جوړولو او پرمختیا په برخه کې د ښوونې او روزنې د متخصصینو نظرونه، له مختلفو برخو راټول او د هغو له مخې ترتیب شي.
- د اسلامي تعلیماتو او انساني علومو ترڅنگ، عصري او تخنیکي تخصصونو ته جدي پاملرنه وشي.
- په نیمه عالي تعلیماتو کې ، په تخنیکي او حرفوي برخو زیاته پانگونه وشي.
- دولت باید د خصوصي سکتور قوي ملاتړ وکړي، څو د هېواد د معارف او لوړو زده کړو د کمي او کیفي رشد لامل شي، اما ترڅنگ یې باید د تعلیمي او تحصیلي خدماتو د وړاندې کولو له کیفیت نه جدي نظارت وشي.
- د ښوونکو د سرپناه ستونزه حلول او د هغوی د ژوند وضعیت او عاید ته توجه کول، تر څو معلم د خپل معاش په وسیله چې له دولت څخه یې ترلاسه کوي، خود کفا شي،

ټولنیز حیثیت یې تقویه شي او د نسلونو د روزونکي په توګه خپل رول په سمه توګه اداء کړي.

د لوړو زده کړو په برخه کې باید لاندې مواردو ته زیاته توجه وشي:

- پوهنتونونو او تعلیمي بورسونو ته د زده کوونکو د جذبولو په موخه جامع کړنلاره او عادلانه معیارونه او مقررات وضع کول، تر څو عدالت رامنځ ته شي او د هېواد ټولو بچیانو ته له هر ډول توپیر پرته مساوي فرصت برابر شي.
- د هېواد دننه په مختلفو رشتو کې له آسانه شرایطو او نړیوالو معیارونو سره، د لیسانس نه پورته زده کړو زمینه برابره شي.
- په تحصیلي ادارو کې د غیر مختلط نظام ترویجول، ترڅو میرمنو ته زمینه برابره شي چې په پوره ډاډ سره په خپلو ځانګړو انسټیټیوټونو او پوهنتونونو کې لوړې زده کړې سر ته ورسولی شي.
- د کاري او مدیریتي مهارتونو زده کول او د تحصیل په دوران کې د کار زده کولو او تجربو لاس ته راوړلو ته رسمی بڼه ورکول، ترڅو که زمونږ ځوانان له پوهنتون نه فارغ شي، نو له انتظار پرته، کار ومومي او د هېواد په ترقي او

پرمختګ کې ونډه واخلي.

- د بهرنیو ژبو د زده کولو اوتقویت نه په استفادې سره، د ساینس او ورځنۍ ټیکنالوژي رشتو پیاوړې کولو په برخه کې کوښښ او هڅه کول، څو د هېواد بچیان زیاتو علمي منابعو ته لاسرسی پیدا کړي او په آسانۍ سره وکولی شي دنړۍ له علمي لاس ته راوړنو او تجربو نه ګټه واخلي.
- په خصوصي پوهنتونونو او لوړو زده کړو موسسو باندې تر وروستي بریده د دولتي مالیې کمول تر څو د تحصیلي کیفیت په لوړولو زیاته پانګونه وکړي او محصلینو ته د زده کړو لګښت راښکته شي.

**قانوني اصلاحات**:

د قانون واکمني او د افغاني ټولنې قانونمند کیدل د جمعیت اصلاح افغانستان له اساسي موخو څخه دی، د قانون له واکمنۍ څخه مو هدف دا دی چې هېڅوک له قانون څخه پورته ونه ګڼل شي، حاکم او محکوم په یو ډول، اساسي قانون او ټولو قوانینو ته درناوی ولري او هغه مراعات کړي، په یوه قانون محوره ټولنه کې، د ټولنې ګټې د حکومت پر ګټو وړاندې دی، هېڅ کله اضطراري حالت او د ولسمشر لخوا ځانګړي فرمانونه صادرول د عادي قوانینو ځای نشي نیولای.

زمونږ په اند، قانون او قانون جوړونه زمونږ په ټولنه کې باید هغه ډول چې د هېواد د اساسي قانون درېیمه ماده تصریح لري د اسلامي شریعت له احکامو او معتقداتو سره مخالفت ونلري.

اسلامي شریعت د ټولنې د وجدان او ضمیر په ژورو کې ریښې لري او په افغانستان کې د قانون جوړونې اصلي او اساسي سرچینه او قوانینو ته د مشروعیت ورکولو معیار دی، اسلامي شریعت ته په کتلو سره، په قانون ایښودنه کې د قانون د واکمنۍ حقیقي معنا تاکل او مشخص کېږي، او یوازې په همدې صورت کې ده، چې قانون د خلکو زړه او ضمیر کې ځای نیسي او د هېواد وګړي د هغه له احکامو پیروي کوي، د ټولنې ټول وګړي، له کوم امتیاز پرته هغه ته غاړه ږدي او حکم یې مني.

نو په همدې دلیل لازمه ګڼو چې زمونږ په هېواد کې قانون جوړونه باید د اسلامي شریعت د احکامو او د شریعت د عامو مقاصدو سره سم صورت ونیسي، ترڅو د ټولنې هر وګړی په شوق او علاقه د قانون د احکامو د تطبیق لپاره هڅاند وي او خپلې ګټې د قانون په رڼا کې لاس ته راوړي.

### د قانون د واکمنۍ په برخه کې:

مونږ باور لرو چې د قانون د واکمنۍ په لاره کې لومړنی گام دا دی، چې د اساسي قانون، نافذه قوانینو او ټولو تقنیني اسنادو نصوصو ته، په ټولو برخو کې پوره درناوی وشي.

دغې هیلې ته هغه وخت رسیدلی شو، چې د هېواد ټول اتباع ، د ولسمشر، وزیرانو او دولتي چارواکو په گډون، ځانونه د قانون د احکامو تابع وگڼو او هغه د ورځنیو اجراءاتو په ترڅ کې په ښه بڼه پلی کړو، قوانین د قدرت مندو او چارواکو د لاس ساتیری ونه گرځي، چې د ټولنې په بې وسه خلکو تطبیق او په زورورو تطبیق نشي، بلکې په ټولو باید یو ډول پلی شي، دغه راز د قانون په احکامو کې تغییر او بدلون باید د قانوني مراجعو، چې ستره محکمه ده، له لارې صورت ونیسي، نه دا چې د دولت د درې گونو قواوو اراکین یې د خپل ذوق او سلیقې له مخې تغییر او توجیه کړي.

ملت او وگړي باید درک کړي چې اساسي قانون د هېواد د ترټولو لوړ تقنیني سند په توگه د افغانستان اسلامي جمهوري دولت لوړ ارزښتونه تمثیلوي، سیاسي نظام یې مشخصوي، د چارواکو او وگړو وجایب او مکلفیتونه یې ټاکي او حقوق یې معلوموي، پرته لدې چې جزئیاتو ته یې ننوزي، ځکه چې جزئیات یې په عادي

قوانینو کې تنظیمیږي او اساسي قانون باید تل، د لوړ قانون او د نورو قوانینو د مور په توګه پاتې شي.

مونږ دغه راز باوري یو چې اسلامي شریعت په هېواد کې د قانون جوړونې اصلي منبع او سرچینه ده، او د اساسي قانون د دریېمې مادې مطابق، هیڅ قانون باید د اسلامي شریعت د معتقداتو او احکامو سره مخالف نه وي، نو ځکه خو د دولت د درې ګونو قواوو ټولې کړنې او تصرفات باید د اسلامي شریعت، اساسي قانون، نافذه قوانینو او ټولو تقنیني اسنادو سره سم مرعی الاجراء روان وي، چې دا به په خپله په هېواد کې د قانون د حاکمیت لپاره قوي اجرایي ضمانت وي، لکه چې د ټولنې ټول افراد، د هغوی د اجتماعي حیثیت او سیاسي او اداري موقف په نظر کې نیولو پرته د قانون تابع شي او د هغه د غوښتنو سره سم به حرکت کوي، دغه وخت دی چې عدالت به په ټولنه کې پیاوړی او مساوات به پراخه شي، د ملت او دولت ترمینځ به باور زیات او د متقابلې همکارۍ فضا به جوړه شي او ټولنه به د هر اړخیز ثبات لور ته روانه شي.

### د خدماتو په برخه کې:

خدماتي څانګو ته متوازنه توجه، د انکشاف او پرمختګ له مهمو عناصرو څخه ده او د ټولنې د استقرار او هېوادوالو ته د ښه ژوند

برابرولو له اساسي ستنو څخه ګڼلی شي، په داسې حال کې چې له بده مرغه زمونږ په هېواد کې لا تر اوسه دغه مهمه او حیاتي برخه له سخت اداري شاته پاتې والي سره مخ او د مالي مواردو د کمښت له امله له سختو ستونزو سره لاس او ګریوان ده.

په دغه برخه کې د شاته پاتې کېدو ستونزه، په ادارو کې د پراخ مالي او اداري فساد څخه زېږیدلې ده، د خدماتو په برخه کې دغه ناوړه حالت په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د هېوادوالو په ژوند ډېرې منفي او بدې اغیزې لري.

جمعیت اصلاح د خدماتو وړاندې کولو په برخه کې د وضعیت سمونې په موخه په لاندې ټکو ټینګار کوي:

- په ټول هېواد کې د ملي بودجې د عادلانه مصرف او د پرمختیایي او خدماتي پروژو له عادلانه وېش څخه ډاډ ترلاسه شي، کلیو او بانډو ته ډېره توجه وشي، ترڅو دغه خدمات ښارونو پورې محدود پاتې نشي او خدماتي فعالیتونه باید د ښارونو او کلیو ترمینځ د نفوسو د توازن ساتلو عامل شي او له کلیو نه ښارونو ته د خلکو د کډوالۍ او نقل مکان مخه ونیسي.

- په ټولو خدماتي برخو کې اداري او فني کادرونو روزلو ته پاملرنه، په داسې توګه چې د پرمختیایي پلان او اجرایي برنامو له غوښتنو سره سم حرکت وکړي.
- په دغه برخه کې د خلکو او خصوصي سکتور د مؤسسو شریکول او هغوی ونډې اخیستلو ته هڅول.
- د اوبو پروژو ته لومړیتوب ورکول او د ولایاتو د مرکزونو او کلیو وګړو ته د څښاک د پاکو او صحي اوبو د برابرولو په موخه مختلفې منابع او سرچینې لټول، د باران له اوبو څخه د ښې ګټې اخیستنې په هدف بندونه او نهرونه جوړول او د ځمکې د سطحې د اوبو لپاره دقیق پلان او برنامو جوړونې نه په استفادې سره د ځمکې لاندې اوبو حفاظت او ساتل.
- د هېواد د معادنو او کانونو استخراج او کیندلو ته باید جدي توجه وشي، ځکه چې دا د الله تعالی له لوري مونږ ته راکړل شوي ستړي پانګې دي او د هغو د خپلسره کیندلو مخه ونیول شي، پدې اړه له شرکتونو سره په تړونونو او قراردادونو کې شفافیت خوندي شي او له بهرنیو هېوادونو سره د سترو قراردادونو په تړلو کې لازم احتیاط وشي، څو زمونږ د هېواد منافع او مصالح پکې په ښه توګه په پام کې ونیول شي.

- د لمریزې او بادي انرژۍ له تولیدي منابعو څخه استفاده، په داسې توګه چې په ښارونو او کلیو کې په مناسبه بیه، د وګړو اړتیاوې پوره کړي.
- خصوصي سکتور وهڅول شي، چې په عام المنفعه پروژو، لکه د هستوګنې (اسکان) ښارګوټو جوړولو کې پانګونه وکړي، ترڅو د هغو کورنیو غوښتنو او اړتیاوو ته ځواب ووايي چې محدود عاید لري.
- د ودانیو د څښتانو او په کرایه ناستو خلکو تر منځ تنظیموونکي قوانین او مقررات صادرول، په داسې توګه چې د په کرایه ناستي امن او استقرار او د کور د څښتن حقوق په یو ډول خوندي کړي.

**د کار او کارګر ملاتړ**:

اسلام کارګر ته درناوی ورکوي او کار تقدیروي او هغه جاهلي افکار او ارزښتونه، چې کار او کارګر سپک ګڼي، تر پښو لاندې کوي،جمعیت اصلاح پدې برخه کې لاندې ټکو ته د رسیدو په موخه هڅه او کوښښ اړین او ضروري ګڼي:

- د کارګرۍ کلتور عامول او د کارګرانو تر منځ د بېلابېلو وسایلو او طریقو په وسیله د کار او کارګر د ارزښت په اړه پوهاوی رامنځته کول.

- د اتحاديو د آزادۍ او استقلال ساتنه او حفاظت او له سياسي او پر پريکړو يې اغيز لرونکو جهتونو له هر ډول لاس وهنې او سلطې نه د هغو ليرې ساتل.
- په خصوصي او دولتي سکتور کې کارگرانو ته د اتحاديو جوړولو اجازه ورکول، تر څو د هغوی له حقونو او مصالحو نه ملاتړ او دفاع وکړي.
- د کارگرانو حقونه خوندي کول، لکه: د رخصتي حق، د اضافه کاري حق، له امنيتي او صحي او نورو تدابيرو نه د استفادې حق.
- د حرفوي کارونو هڅونه او په بېلابېلو رشتو کې د مسلکي مرکزونو او ليسو پرانستنه او د هېواد د اړتياوو پوره کولو لپاره د کارگرانو تخصصي کچې لوړول.
- په سختو او درنو کارونو او هغو دندو کې د ماشومانو د استخدام مخنيوی، چې د درس او تعليم مخه يې نيسي او يا يې د اخلاقو د فاسدېدو لامل گرځي.
- په داسې کارونو کې د ميرمنو د استخدام مخنيوی، چې د هغوی له بدني توان او انساني کرامت سره مناسب نه وي.

### روغتيايي سمونې او تګلارې:

روغتيا او صحت ساتنه د ودې او پرمختيا له لومړيتوبونو او بنسټونو څخه دي، ځکه چې روغتيا او وده سره لازم او ملزوم دي، او روغ انسان د بشري ټولنې د ودې او پرمختيا اساس دی.

لکه څنګه چې د بشر د ژوند ساتنه د اسلامي شريعت له مقاصدو څخه ده، جمعيت اصلاح د هېوادوالو د روغتيا د خونديتوب ارزښت، له بل کار نه مهم ګڼي، او پدې ډګر کې لازمې برنامې، هم د وقايې په اړه او هم د ناروغانو د علاج په برخه کې، ترتيبول او په لاره اچول ضروري بولي، نو پدې اساس د لاندې ټکو په عملي کولو ټينګار کوي:

- داسې زمينه جوړول چې کرار کرار روغتيايي بيمه له آسانه شرايطو سره ټولو هېوادوالو ته برابره شي.
- د مجهزو روغتيايي مرکزونو زياتول، ترڅو په ځانګړې توګه د کليو او بانډو خلکو ته درملنه او خدمات برابر شي او پدې برخه کې د خلکو ستونزې په متوازنه توګه را کمې شي.
- د غير انتفاعي کلينيکونو او روغتونونو جوړولو لپاره د مرستندويه مؤسساتو ملاتړ او کمک جلب شي، څو فقيرو او ناتوانو وګړو ته وړيا او يا په ټيټه بيه روغتيايي خدمات وړاندې کړي.

- د مجهزو دولتي روغتونونو د جوړولو په موخه لازم پلانونه ترتیبول او د متخصصو کادرونو روزلو په موخه بودجه ټاکل، تر څو مو هېوادوال د تداوۍ او درملنې په موخه له هېواد نه بهر تګ ته اړتیا پیدا نه کړي.
- د باکیفیته روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو او د سیمه ایزو سترو روغتونونو او روغتیایي مرکزونو سره د ګډو هڅو او د یوبل له تجاربو نه د استفادې په هدف اړیکو ټینګولو کې د دولتي عامې روغتیا او خصوصي سکتور ترمنځ همغږي ایجادول.
- د طب او طبابت په برخه کې تحقیق او ارزونې ته زمینه جوړول، څو په هېواد کې روغتیایي خدمات انکشاف او پرمختیا ومومي.
- د طبابت په مسلک کې اخلاقي او انساني اړخ ته وده ورکول او د روغتیایي کارکوونکو په چلند کې د زړه سوي او امانتدارۍ په څېر ارزښتونه کینول، د فساد، وظیفوي غفلت او سمې دندې نه اجراکولو څخه د مخنیوي په خاطر غوڅ او قاطع قوانین وضع کول.
- په خلکو کې د ښوونځیو او د پوهنتونونو له لارې او د رسنیو او منبرونو په وسیله، د چاپېریال روغتیا ساتنې کلتور په پام

کې ساتلو پوهاوی خپرول، هغوی پوهول څو د ځنبلو اوبه ناولې نه کړي، هوا له ککړېدو نه وساتي، د ځنګلونو، شنو سیمو او د اوسیدنې چاپیریال ساتنه او حفاظت کې مرسته وکړي.

## د اقتصادي اصلاحاتو پلي کول:

اقتصاد د دولت د قوت او پیاوړتیا بنسټیز رکن ګڼلی شي، ډېره ستونزمنه او حتی ناممکنه ده چې د یوه اسلامي هېواد اقتصاد، د پردیو اقتصادي نظامونو، هویت او کلتور تر سیوري لاندې، د هر اړخیز پرمختګ او انکشاف په لور فعال رول ولوبوي، نو ځکه خو داسې پروګرامونو ته اړتیا ده چې د اسلام له بنسټونو او ارزښتونو څخه سرچینه واخلي او د خلکو روحي او ټولنیز ځواکونه چمتو کړي او جدي او پیاوړې اقتصادي تګلاره تر کار لاندې ونیسي چې په واقعیتونو باور ولري او د تولید او مصرف او عرضې او تقاضې تر منځ توازن وساتي، صادرات او واردات متوازن کړي، په داسې توګه چې ټولنیز او اقتصادي پراختیا او د ټولنې موجوده امکانات په نظر کې ولري څو ټولنیزه سوله، اقتصادي سوکالي او سیاسي ثبات منځ ته راشي.

په بنسټیزه توګه د افغانستان اقتصادي پرمختګ په دریو لویو عواملو پورې تړلی دی: کرهڼه، معدنونه او خدمات. له بده

مرغه د تېرو څلورو لسيزو جګړو او ناکراريو له امله، د کرهنې په برخه کې په شا تللي يو، له همدې امله کوم ځانګړی پرمختګ او وده نه تر سترګو کېږي، نو لازمه ده چې د هغو هېوادونو ـ چې په زراعت ولاړ دي ـ له تجربو نه ګټه اخيستو سره لازمه پروګرام جوړونه او پانګونه وشي، له بل پلوه د کانونو مطلق اکثريت برخه لا هم ندي کشف شوي، هڅه بايد وکړو چې د قوي اقتصاد لرونکو هېوادونو، چې زمونږ هېواد ته د سياسي او استعماري طمعې سترګې ندي نيولې، په مرسته او د شفافو قراردادونو په اساس، د دغو کانونو د استخراج او کيندلو اقدام وکړو، او په راتلونکي کې د خود کفايي په موخه خپل کادرونه وروزو، اوخپلې هڅې منسجمې کړو، البته د خدماتو په برخه کې د پام وړ ګامونه اخيستل شوي، خو لا هم زياتې اړتياوې موجودې دي.

### **د معلوليت او فقر درملنه**:

اسلام د ټولنې او افرادو سرپرستي په اصل کې د دولت په اوږو اچولې ده، تر دې چې د اسلام راشده خليفه ګانو به د امت د يوه فرد د لوږې او د لارې د خرابوالي له امله د يوه څاروي تکليفېدلو مسؤوليت په خپله غاړه اخيست.

د دولت دغه ستر او هر اړخيز مسؤوليت، دغه ټکی د شارع له نظره نه دی غورځولی چې په ځينو حالاتو کې کېدای شي اصلاً

دولت شتون ونلري او يا موجوده دولت د خپلې دندې په سرته رسولو کې غفلت او سستي وکړي او يا هم عاجز او ناتوان وي. په همدغه ډول حالاتو کې کفايي فرضونه او اجتماعي واجبات مطرح کېږي، تر څو مسؤوليت د هغو مسلمانانو په اوږو کېږدي چې په صحنه کې موجود دي او د خپل مسؤوليت د اداء کولو توان ولري، څو ضرررونه ليرې کړي، ستونزې ختمې کړي او ټولنه د برياليتوب په لور وخوځوي.

د کفايي فرضونو په لړۍ کې د يتيمانو سرپرستي، له کونډو سره مرسته، معلولو انسانانو ته اسانتياوې برابرول، فقيرانو او مسکينانو ته غذا او جامې برابرول او د هغوی د ښوونې او روزنې سيستم فعالول، پر ناتوانه خلکو د ظلم مخنيوی، خلکو ته د مختلفو ضروري کسبونو او صنعتونو ايجادول، د هغو علومو زده کړه چې خلک ورته اړتيا لري او په هغو کې مهارت ترلاسه کول، شامل دي، تر دې چې امام غزالی د خپلې پېړۍ مسلمانان د طب د علم نه زده کولو په سبب، چې هغه مهال ورته سخته اړتيا وه، ملامت کړي وو. که چيرې يوه کورنۍ له لوږې سره مخ شي او دولت يې غم ونه خوري او داسې ټولنه هم شتون ونلري چې مرسته ورسره وکړي، نو مسؤوليت يې نيغ په نيغه د ګاونډي په غاړه دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

«مَا آمَنَ بِي مَنْ بَاتَ شَبْعَانًا وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يَعْلَمُ بِهِ»[١٣].

(هغه چا پرما ایمان ندی راوړی چې شپه په مړه ګېډه ویده شي په داسې حال کې چې ګاونډی یې تر څنګ وږی وي او هغه یې په حال خبر وي).

د یوې دقیقې تګلارې او منظمې برنامې پر بنسټ د فقر جدي توګه درملنه، په داسې توګه چې لومړۍ د دغې پدیدې اندازه معلومه شي او بیا د واقعیتونو پر بنیاد د دولتي او ولسي امکاناتو په کارولو سره د فقر لمنځه وړلو طرحه او پلان تر کار لاندې ونیول شي، د یوه متوسط فامیل د یوې میاشتې لګښت سنجول، د تولیدي پروژو له لارې هغوی ته د کار پیدا کول، د زکات راټولولو او ویش لپاره د پرمختللي سیستم رامنځته کول، او د هغو منابعو ـ چې په یوه بڼه د فقر په ختمولو کې مرسته کولی شي ـ ترمینځ د همغږي مرکز ایجادول، له فقر سره په مبارزه کې مهم ګامونه ګڼلی شي.

### د مدني ټولنې د بنسټونو رول تنظیمول:

مونږ په دې باور یو چې د ټولنې اصلاح، ویښول، او بیا رغونه د ټولنې د مختلفو طبقو پراخه مشارکت ته اړتیا لري، په همدې

---

[١٣]: المعجم الکبیر د طبراني.

خاطر جمعیت اصلاح د ټولنې د مدني بنسټونو له لارې لکه: صنفي اتحادیې، روغتیایي، روزنیز او خیریه سازمانونه ، له لارې کار او فعالیت تائیدوي او هغه د ټولنې د اصلاح او تغییر یوه لاره او د هېواد د پرمختګ او ترقي زمینه برابرونکې ګڼي.

د مدني ټولنو تجربه البته په هغه حقیقي معنا یې، په ډېرو هېوادونو کې توانیدلې ده چې خلک له خپلو حقونو خبرولو او چارواکي د ولسونو په وړاندې ځواب ویلو کې موثر رول ادا کړي، مدني ټولنه له هغو پوهو، دردمنو، او مسئولیت پیژندونکو افرادو څخه عبارت ده، چې د ټولنو په چوکاټ کې اویا هم په فردي توګه د ګواښونو او ستونزو په وړاندې اواز اوچتوي، او د ټولنې د ارزښتونو سره سم د هغو ستونزو کمولو هڅه کوي، مدني ټولنه خود جوشه او په خپلواکه توګه میدان ته راوزي، مصارف او لګښت یې له خپله جیبه او یا هم د ټولنې شتمن خلک برابروي، له بده مرغه په افغانستان کې مدني ټولنې لا هم پخوالي حالت ته ندي رسیدلې، او په اکثرو مواردو کې خود جوشه او مستقلې هم نه وي، نو ځکه خو مونږ باید د مدني ټولنو د حالت سمولو او په ټولنه کې د هغوی د اغیزمن کولو په اړه کوښښ وکړو او دغې هیلې ته د لاندې کارونو په وسیله رسیدلی شو:

- خلکو ته په علمي توګه د مدني ټولنو ورپېژندل، او د هېواد نافذه قوانینو په رڼا کې د هغوی د صلاحیتونو او مسئولیتونو چوکاټ ټاکل، د مدني ټولنې د هغو مؤسساتو فعالیتونه بندول چې د مدني ټولنو له نوم نه غلطه ګټه اخلي او یوازې له شکمنو مراجعو څخه د مالي ګټې ترلاسه کولو لپاره جوړې شوې دي ترڅو له هغو نه د اخلاقي بدیو او داسې چارو د ترویج لپاره کار واخلي چې هغه له ملي او اسلامي ارزښتونو سره مخالفې دي.
- په مختلفو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي میدانونو کې د ولسواکۍ او شورائیت پر بنسټ د سازمانونو او مدني ټولنو رامنځته کول چې د خپلو کارونو د تنظیم لپاره د اتحادیو او هېوادوالو د فعالیت ازادی تضمین کړي.
- د ولسي ټولنوپه چوکاټ کې د خیریه فعالیتونو ملاتړ او د اسلامي ټولنې د چارو د تنظمولو تر ټولو ستر بنسټ په توګه د جومات رول تقویه کول، او د معاصرو تجاربو او وسایلو نه په استفادې سره د اجتماعي ضرورتونو د رفع لپاره د کمکونو تنظیمول.
- د اسلامي وقف حیثیت او اعتبار راژوندی کول، چې د لارو، جوماتونو، روغتونونو، دارالایتامونو جوړولو او فقیرو او

مسکینو وګړو ته د مرسته ورکولو کې ترې کار واخیستل شي، دغه راز د حسنه قرض کلتور ترویج شي، څو هغه د سودي معاملاتو ، چې د وړو پورونو ترعنوان لاندې د ټولنې په محرومه طبقه کې سودخوري رواجول غواړي، په مقابل کې ښه بدیل وي.

### په ټولنه کې د علماوو رول پیاوړی کول:

**إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ (فاطر۲۸)**

ژباړه:[ حقیقت دا دی چې له الله تعالی نه، پوه خلک ویریږي، الله تعالی قوي او بښونکی ذات دی].

( إنَّ العلماءَ ورثةُ الأنبياء)[١٤]

ژباړه: (علماء د پیغمبرانو وارثان دي)

حقیقي علماء د پیغمبرانو وارثان دي، او د الله جل جلاله لور ته په حکیمانه بلنې، نېکې موعظې، په نېکیو امر او له بدیو څخه منع کې مهم ځای لري، دغه راز علماء په ټولنه کې د اسلامي هویت په ساتنه، انساني ارزښتونو په تقویې او د سولې او امنیت په رامنځته کولو کې اساسي رول لري.

---

[١٤]): سنن ابوداود.

ديني عالمان زمونږ د معنوي رهبرانو په توګه، د نيکمرغۍ او نجات ساحل ته د ټولنې په ويستلو کې ټاکونکی رول لري، له بده مرغه د اسلام د دښمنانو څرګندو او پټو دسيسو له يوه پلوه او د يو شمير علماوو غفلت او لټي له بل پلوه، سبب شوی دی چې دغه رول په سمه توګه ادا نشي، د علماوو د فعاليت ساحه، د شخصي معاملاتو، د جومات او هديرې ترمينځ ساحه کې محدوده پاتې شي، او له ټولو نه بده دا چې د علماوو ترمينځ اختلاف شتون ولري او په وړو، جزئي او فرعي مسايلو کې سره ونښلي، چې له بده مرغه لمن يې تر عامو خلکو پورې هم غځيدلې ده، چې اسلامي اخوت او ملي وحدت ته يې سخت زيان اړولی دی.

جمعيت اصلاح افغانستان هيله لري، چې علماء په ټولنه کې خپل اصلي ځای ونيسي او د خلکو د يووالي او له موجوده بدمرغيو نه د ټولنې د خلاصون باعث شي، او دغه هيلې ته د رسيدو په موخه لاندې کارونه اړين بولو:

- علماوو، خطباوو او واعظانو ته د کار ازادي تضمينول، څو وکولی شي، د اسلام اساسات، اخلاقي ارزښتونه او هغه مسايل چې اسلام د ژوند د تنظيم او د ټولنې د ستونزو د حل لپاره وړاندې کړي دي، په مکمله توګه خلکو ته ورسوي.

- د علماوو له اوړو نه اقتصادي نه ښکاريدونکي فشارونه ليرې کول، ترڅو وتوانيږي، د خلکو د لارښوونې او له منکراتو او بديو سره د مبارزې رسالت او وجيبه په ښه توګه سرته ورسوي.
- د علماؤ تر منځ همغږي او د کار يووالی رامنځته کول او د ديني خطاب اصلاح، تر څو د خلکو ترمينځ د اتحاد او اتفاق سبب او په ټولنه کې د سولې او امنيت د ټينګښت لامل شي.
- د علماؤ اوواعظانو ظرفيت او وړتيا لوړول او د هغوی د مهارتونو د ودې لپاره مناسبې زمينې برابرول.
- د وعظ او ارشاد د وسايلو ښه کول او په دغه برخه کې له نوې ټکنالوژي څخه د استفادې زمينه برابرول.
- په ملي بودجه کې ، د امامانو، مساجدو، خطيبانو او واعظانو د اقتصادي ستونزو د رفع او مالي وضعيت د ښه کولو په موخه کافي بودجه ځانګړې کول.

**جوماتونه د ټولنې د هدايت او لارښوونې مرکزونه**:

وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا مَعَ اللَّهِ أَحَدًا (الجن ۱۸)

ژباړه: ( جوماتونه خاص الله (ج) لره دي، نو له الله تعالی سره بل هيڅوک مه رابولئ ).

دا زمونږ ټولو مسئولیت دی چې د جوماتونو ارزښت او مقام روښانه کړو، او له منبر څخه د خلکو د هدایت او خیر لپاره ګټه واخلو، جمعیت اصلاح غواړي چې د جومات مقام او رسالت  د لاندې طریقو نه په استفادې سره د ټولنې اخلاقي او ارزښتي چارو په منظمولو کې موثر شي:

١)  په ټولنه کې د جومات حیثیت تقویه شي اود عبادت او هدایت حقیقي مرکزونه وګرځي.

٢)  زمونږ جوماتونه د  لمانځه د ادا ترڅنګ د قرآن کریم، نبوي احادیثو، د دین د زده کړې او اسلامي اخلاقو د ترویج په درسونو آباد وي.

٣)  ملت باید داسې له جومات سره وتړل شي، چې د خپلو سترو اجتماعي ستونزو حل هلته پیدا کړي.

٤)  جوماتونه باید د خلکو د ورورګلوۍ او یووالي مرکزونه شي او له منبرونو څخه د فرقوي او مذهبي اختلاف له خپرولو څخه، چې د ولس ترمینځ کرکې او نفرتونه زیږوي، جدي ډډه شي.

٥)  په جوماتونو کې موعظې او خطبې، د ټولنې د اړتیاوو سره سمې او په پوره چمتووالي وړاندې شي، ترڅو یې د خلکو په هدایت او لارښوونه کې اغیز ترسترګو شي.

### په ټولنه کې د ځوانانو د رول په اړه:

ځوان قشر د ټولنې فعال قوت ګڼلی شي، او همدوی دي چې د ټولنې نن او سبا ټاکي، له نیکه مرغه د نفوسو د ودې د بهیر څېړنې ښيي چې د هېواد ځوان قوت د زیاتېدو په حال کې دی، ۶۰ سلنه افغانان له ۳۵ کلونو نه ښکته عمر کې دي او د هېواد د نفوس ۲۵ سلنه برخه د ۱۸ او ۳۵ کلونو ترمینځ دي، نو په دې اساس ځوانه طبقه لکه څنګه چې د نوعیت او کیفیت په لحاظ په ټولنه کې حضور لري د کمیت له کبله هم د هغوی حضور بارز او د پام وړ دی.

ځوانان فوق العاده وړتیا، کافي وخت او آرماني افکار لري او که په سمه توګه رهنمایي شي او د پرمختګ دروازې یې پر مخ خلاصې شي، دغه وړتیا او آرمان پالنه یې په مثبت تولیدي کار، علم او پرمختګ بدلېږي. مګر که په غلطه توګه رهبري شي او د پرمختګ لار یې پر مخ وتړل شي حتماً یې دغه وړتیاوې یې په وران کارۍ، فساد او بې ګټې چارو کې ضایع کېږي. نو باید ځوانان د اسلامي ارزښتونو ژوندی او خوځنده مثال وګرځي تر څو د خپل ځان جوړونې امکانات ترلاسه کړي، خپل موجودیت ثابت کړي او د خپل وطن په جوړونه کې برخه واخلي. مناسب

فرصتونه باید رامنځته شي، تر څو د ځوانانو روحي، فکري، بدني، ټولنیز او علمي اړخونه په متوازنه توگه وده وکړي.

جمعیت اصلاح د هېواد کوچنیانو او نویو ځوانانو ته هم جدي پاملرنه کوي له چارواکو او ټولو هېوادوالو څخه غواړي چې د هغوی د معیاري ښوونې او روزنې لپاره لازم شرایط برابر کړي او د هغوی د وختونو د ضایع کېدو مخه ونیسي.

### د ښځو د رول تفعیل:

اسلام د انسانیت جوهر او د پیدایښت یووالي ته د ښځې او نر په وجود کې یو ډول گوري او دوی دواړه په انساني مسئوولیت او کرامت کې سره مساوي بولي، ځکه ښځې د نارینه وو شریکې دي او په دې وسیله ښځې او نارینه د شرعي احکامو په اصل کې - له هغو استثناءاتو پرته چې د شارع له خوا تعیین کړای شوې دي - یو له بل سره مساوي دي. ښځه یو عاقل مخلوق او په قرآن او سنتو کې د الهی احکامو مخاطبه ده او د سړیو په څېر مکلفیت او پوره مسؤولیت لري، د هغوی مدني او جنایي مسؤولیتونه د نارینه وو په څیر دي او پوره مالي ذمه لري او ټول تصرفات او مالي معاملات یې سم او نافذ دي د پلار، میړه، ورور او نورو موافقې ته اړتیا نلري، زمونږ ټولنه ښځینه قیادتونو ته جدي اړتیا لري، چې د افراطي او تفریطي لید لوریو نه لیرې د

قرآن او سنتو او د صالحو سلفو د سیرت په رڼا کې له متوازن شخصیت نه برخورداره وي او زمونږ په ټولنه کې د وارداتي او تحمیلي ماډلونو پر وړاندې د دریدلو توان ولري.

که امنیتي شرایط مناسب وي او دیني حدود او ضوابط مراعت کړي، نو ښځې حق لري چې د نارینه وو په څیر په ټولو اجتماعي او سیاسي فعالیتونو لکه پارلماني، محلي او د صنفي اتحادیو ټاکنې، کې برخه واخلي، لکه چې کولی شي د دغو مجالسو غړیتوب ولري.

د نړیوال کیدلو پدیدې ته په کتلو او په هېواد کې د ښځو د کار په وړاندې نویو ګواښونو راڅرګندیدو سره، لازمه ده چې میرمنو ته په دعوتي او اجتماعي فعالیتونو کې د ګډون شرایط برابر کړل شي، هغوی د عبادت د ادا او موعظو او خطبو اوریدلو په موخه جوماتونو ته د تګ لپاره وهڅول شي، زمونږ جوماتونه باید د ښځو د روا حقونو او آزادیو د معرفي او له هغو نه په دفاع کې اساسي رول ولوبوي.

مونږ باور لرو چې د میرمنو حقوق، په هغه ډول چې اسلام ورته ټاکلي دي، په ټولنه کې هغوی ته نه ورکول کیږي، مونږ هڅه کوو چې هغوی ته خپل واقعي حقونه برابر کړو، په عین وخت کې د میرمنو د حقونو له شعار نه غلطې استفادې او د افغان

میرمنې د شخصیت د تخریب په موخه د هغه له کارولو سره مخالف یو، دغه راز د میرمنو په وړاندې هر ډول زورزیاتی او دوی له هر راز شرعي او قانوني حقوقو څخه بې برخې کول لکه: د میراث نه ورکول، جبري ودونه او له تعلیم څخه محرمومول، محکوموو او پر ضد یې مبارزه کوو، مونږ غوښتنه لرو چې په ټولنه کې د میرمنې شخصیت ته درناوی وشي، دلارې او کوڅې پر سر، د دندې او تحصیل په چاپیریال او نورو ځایونو کې د هغوی د ځورونې ستونزې ( چې له بده مرغه ورځ تر بلې زیاتیږي ) باید په اساسي ډول معالجه شي.

په عین حال کې د ښځو په وړاندې د زور زیاتي له عنوان څخه غلطه استفاده او د کورني نظام د کمزوري کولو او د لوړو اسلامي او ملي ارزښتونو په خلاف د میرمنو د تحریکولو په موخه د دغه شعار له کارولو سره مخالف یو.

مونږ د یوه اسلامي ارزښت په توګه له حجاب څخه ټینګ ملاتړ کوو او باور لرو چې حجاب کله هم د میرمنو د اجتماعي فعالیتونو پر وړاندې مانع ندی، بلکې د هغې شخصیت ساتي او په ټولنه کې یې حضور خوندي کوي.

### د کورنۍ ټینګښت:

کورنۍ لمړنۍ ټولنیزه موسسه ده چې انسان د هغه په غیږه کې خپل ژوند پیلوي او له هماغه ځایه اخلاقي ارزښتونه ترلاسه کوي. مونږ جدي هڅه کوو چې د کورنۍ چوکاټ وساتو او د غړو تر منځ یې اړیکې پیاوړې کړو او له هر راز ضعف او لمنځه تللو څخه وژغورو. د کورنۍ د ټینګښت په اړه باید د میرمنې شخصیت ته جدي پاملرنه وکړو د هغې په روحي، عقلي او بدني روزنه کې کوښښ وکړو، څو د پوهه میندو او بریالیو میرمنو په څیر ټولنه کې وځلیږي، دغه راز سړیو ته توصیه کوو، چې د کورنۍ په وړاندې خپلو مسئولیتونو ته پوره پایبند واوسي، د خپلو میرمنو او ماشومانو د حقونو په ادا کې سستي ونه کړي، د اولاد روزنه او د کورنۍ چارې تنظیمول د میرمنو له مهمو او اساسي دندو څخه دي، تر هغه وروسته د هغې په توان او وخت کې ټولنه حق لري، هغه وجایب او مسئولیتونه د دوی په اوږو ایښودلی شي، چې دایره یې د هرې میرمنې د توان او شرایطو، د ټولنې د ظروفو او د هغې د پرمختګ د پړاوونو له مخې سره فرق لري.

اما نارینه، د کورنۍ د لګښت برابرولو په موخه په بهر کې د کار او د کورنۍ د سرپرستۍ ترڅنګ، باید د اولاد په روزنه کې د

میرمنې همکار وي او د کورنۍ په چارو کې د توان تر بریده ونډه واخلي، البته بچیان هم په خپل ځای د کورنۍ په ټینګښت کې ټاکونکی رول لري، که له یوه پلوه ماشومان د مور او پلار په درناوي او د هغوی په سم اطاعت مکلف دي، له بل پلوه مور او پلار او د کورنۍ نور مشران مکلف دي چې د خپلو ماشومانو پر وړاندې مسئولانه چلند وکړي او د هغوی انساني حقوق پرځای کړي، زمونږ په اند، کامیابه کورنۍ هغه ده چې ټولنې ته ( په بدني او رواني لحاظ) سالم او روغ افراد وړاندې کړي، نه داسې افراد چې په خپل کورني چاپیریال کې د وهلو ټکولو، سپکاوي او رټلو له امله عقده مند ستر شي، چې شخصیت یې کمزوری او د ټولنې پر اوږو بار وګرځي.

د ښځې او نر تر منځ اړیکه د یوبل بشپړونکې اړیکه ده، نه په کشمکشونو، منفي سیالیو او ټکرونو ولاړه اړیکه، لکه د غرب ځینې مینه وال او د فیمنستي حرکتونو مبلغین یې چې په اړه وایي. زمونږ په باور د«کورنۍ تړون»[15] چې په ۲۰۱۶م کال کې د کورنۍ د بین المللي انسټیټیوټ، لخوا صادر او تصویب شو، په

---

[15]: دغه تړون د ترکیې په استانبول ښار کې په ۲۰۱۶/۴/٦م نېټه تصویب شوی دی، چې عربي متن یې په www.alwatanvoice.com او نورو سایټونو کې خپور شوی دی.

اسلامي ټولنو کې د ښځې د ټولنيز او سياسي مقام لپاره يوه متوازنه طرحه ده. د کورنۍ بنسټيزه ستنه پر مينې، عاطفې او متقابل احترام ولاړه ده او هرکله چې کورنۍ مينه او متقابل احترام له لاسه ورکړي او ګډ او دوستانه ژوند ناممکن شي، په دغه صورت کې د نارينه له لوري طلاق او د ښځې له لوري د خلع حق، يوازينۍ وسيله ده چې د دواړو لوريو ترمنځ تلپاتې کشمکش ته د پای ټکی ږدي، د ژوند په مختلفو فعاليتونو کې د ښځې او نر مشارکت يو حتمی امر ګڼل کېږي او اسلام دغه ډول مشارکت ګناه نه ګڼي بلکې شرعي آداب او اصول ورته ټاکي، لکه د ژوند په نورو برخو کې يې چې ټاکلي دي.

**د پای خبره**:

دغه د جمعيت اصلاح افغانستان د آرمانونو، ليدلوريو او دريځونو لنډيز وو، چې له دغه ټولنيز ـ اصلاحي جريان د ښې پيژندګلوۍ په موخه د اوسنۍ مرحلې د غوښتنو په پام کې نيولو سره، د درنو او ښاغلو هېوادوالو خدمت ته وړاندې شول.

هيله لرو چې په وروستيو چاپونو کې له نويو عنوانونو او تازه موضوعاتو سره د لوستوالو د ناځواب شويو پوښتنو ته ځواب ووايو.

والله هادی الی سواء السبيل

# لړلیک

عنوان..........................صفحه

سریزه..............................۲

موخې:.............................۳

وسایل: ...........................٤

د اصلاح فکري بنسټونه ..................۹

زمونږ د اصلاحي طرحې بنسټونه ...............۱۸

لومړی- اسلام: .......................۱۸

دویم- عدل:....................... ۲۸

درېیم- آزادي:..................... ۳۰

څلورم- مساوات:....................۳۱

د ګډ ژوند ضوابط ..................... ۳۳

لومړی ـ نورو ته درناوی: ............... ۳۳

دویم ـ نېک اخلاق:.................. ۳۳

درېیم ـ مرسته او کومک: ............... ۳٤

قضایا او دریځونه .................... ۳٦

د حکومت او حکومتولۍ په اړه زمونږ نظر: ......... ۳٦

قومي او مذهبي تنوع او د دینونو ګڼ والی:........ ۳۸

تاو تریخوالی او تروریزم:................ ٤۲

د بشر د حقوقو په اړه زمونږ نظر ........................ ٤٧
د احکامو پېژندلو لار: ........................ ٤٩
هر اړخیزه اصلاح: ........................ ٥٠
د ټولنیزې اصلاح بنسټونه: ........................ ٥١
١- له ړانده تقلید او پیروۍ څخه ځان ساتنه: ............ ٥١
٢- له ظلم او بې عدالتۍ سره مبارزه: ............ ٥٢
٣- له انساني تجربو څخه ګټه اخیستنه: ............٥٣
۴- تکافل او لاسنیوی: ............................ ٥٤
د اصلاح ډګرونه: ............................ ٥٦
سیاست او حکومتولي: ............................ ٥٦
اداري اصلاحات او له فساد سره مبارزه: .................٥٨
په فرهنګي او رسنیز ډګر کې: .................... ٥٩
د ښوونې او روزنې او لوړو زده کړو په برخه کې: ............٦١
قانوني اصلاحات: ............................ ٦٦
د قانون د واکمنۍ په برخه کې: .................... ٦٨
د خدماتو په برخه کې: ............................ ٦٩
د کار او کارګر ملاتړ: ............................ ٧٢
روغتیایي سمونې او تګلارې: .................... ٧٤
د اقتصادي اصلاحاتو پلي کول: .................... ٧٦

د معلولیت او فقر درملنه: ................................ ۷۷
د مدني ټولنې د بنسټونو رول تنظیمول: ...................... ۷۹
د مسجدونو او علماؤ رول: ................................ ۸۲
جوماتونه د ټولنې د هدایت او لارښوونې مرکزونه: ........ ۸٤
په ټولنه کې د ځوانانو د رول په اړه: ...................... ۸٦
د ښځو د رول تفعیل: .................................. ۸۷
د کورنۍ ټینگښت: ..................................۹۰
د پای خبره: .......................................... ۹۲
لړلیک.............................................. ۹۳

د جمعیت اصلاح هر اړخیز تمدني تصور په دې اصل باندې له مطلق او بې قیده او شرطه ایمان څخه سرچینه اخلي چې: په دنیا کې بل هېڅ نظام، د اسلام په اندازه، توان نلري چې مخ پر ودې او سوکاله ملتونو ته د نظم، اخلاقو، انساني عواطفو او احساساتو پر بنسټ د ودې او روزنې زمینه برابره کړي. څکه چې هغه دین چې الله تعالی د ژوند د نظام په توګه غوره کړی دی او محمد صلی الله علیه وسلم یې د دغې برنامې د تطبیق لپاره د نېکې او پوره قدوې او بېلګې په توګه ټاکلی دی، تر څو خلک له هغه څخه پیروي وکړي، داسې هر اړخیز او محکم دین دی چې د امتونو د انساني ژوند او د بشریت د سعادت او سوکالی لپاره ټول لازم اصول او او اساسات له خان سره لري.

د رسالې له متن څخه